

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دغیرت ځـیره

**لیکوال :**

**نعمت الله "پټانزی"**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دکتاب پېژندنه :

دکتاب نوم: د غیرت ځیره

لیکوال: نعمت الله "پټانزی"

کمپوز او ډیزاین: پخپله لیکوال

خپرندوی: کتابتون ویب پاڼه(www.ketabton.com)

دخپریدوکال: ۱۳۹۸ لمریز

آنلاین چارې: شمشاد "زهیر"

د دي کتاب دچاپ اونشر ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالـۍ

د غیرت ځیره دغیرتي ځیرې(ارواښاد غـازي شیرخان"همراز")سپیڅلي روح او د اسـلام د لارې ټولوشـهیدانو او غازیـانو تـه د زړه لـه تلـه پـه ډیـره مینـه او اخلاص سره ډالۍ کوم .

نعمت الله "پټانزی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**

دلیکوال خبرې ........ ۹

## لومړی فصل

### د غازیانوخاوره

ملي مشرمیرویس خان نیکه........ ۱۰
غازي وزیرمحمد اکبرخان........ ۱۱
غازي ایوب خان او میوندۍ اتله ملاله........ ۱۳
غازي محمدجان خان وردګ........ ۱۴
غازي امان الله خان ........ ۱۷
غازي شیرخان ″همراز″........ ۲۱

## دویم فصل

### غازي شیرخان″همراز″دجهاد په غلبلوکې

د روسانو اوکمونستانو پر وړاندې جهاد اومبارزه........ ۲۴
غازي شیرخان د طالبانو له اسلامي تحریک سره ........ ۲۶
غازي شیرخان د لښکر ایثار یو نمونوي مجاهد ؤ........ ۲۷
د لښکرایثار د بریالیتوب لاملونه........ ۲۹

## دریم فصل

### ځانګړې خاطرې اوله ادبیاتوسره مینه

دا مه وژنه!........ ۳۱
ناکامي (دجنت هیله)........ ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


د عشـق په نابلده ښارکې( دتليفون پرليکه)........................................................ ۳۲
د مار وژل........................................................................................................ ۳۳
دآزادۍ سره مينه ........................................................................................ ۳۴

## څلورم فصل

## د غازي شيرخان"همراز"دعوت

په ټولنېز ژوندانه کې دمسلمانانوحقوقوته درناوی.............................................. ۳۶
دشهادت په تمه ژوندکول...................................................................... ۳۷
دغازي شيرخان ۱۵ ويناوې.................................................................... ۳۸
قرآن اصلاً د چا لپاره هدايت دی؟........................................................ ۴۰
ځانګړې دعاء.......................................................................................... ۴۱

## پنځم فصل

## د غازي شيرخان"همراز"شعرونه

الهي !! ................................................................................................. ۴۵
انقلابي پروانه.......................................................................................... ۴۶
هلـته دلـته.............................................................................................. ۴۷
ويښ شه مسلمانه! .................................................................................. ۴۸
دا وطن د مجاهد دی............................................................................... ۴۹
نيمګړی آرمانونه..................................................................................... ۵۰
هـــوډ................................................................................................... ۵۱
پـريږده.................................................................................................. ۵۱
غيـرتي ته ! ........................................................................................... ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسوی زړه آواز........................................................................................................۵۳
زماتصویر...........................................................................................................................۵۴
درنه لاړم..............................................................................................................................۵۴
د مینې هوډ.........................................................................................................................۵۵
ګل ته! .................................................................................................................................۵۶
خدا ګواه.............................................................................................................................۵۷
زخمونه...............................................................................................................................۵۷
لیکمه..................................................................................................................................۵۸
قلم په ګوتوکې..................................................................................................................۵۹
خبرې.................................................................................................................................۶۰
بوله.......................................................................................................................................۶۰
مزه کوي..............................................................................................................................۶۱
څلوریزې..............................................................................................................................۶۳
څولنډۍ ...............................................................................................................................۶۵
د غازي شیرخان "همراز"تلین .......................................................................................۶۷
شیرخان ته!..........................................................................................................................۶۸
مأخذ اومنابع.......................................................................................................................۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال خبرې

الحمدلله،الحمدلله الذي أرسل بالهدی و دین الحق لیظهرة علی الدین کله،والصلاة والسلام علی سیدنا و مولانا محمد و علی آله وأصحابه أجمعین . امآبعد :

د الله (جل جلاله) شکر اداء کوم چې ماته یې د دې توفیق راپه برخه کړچې د ارواښادغازي شیرخان (همراز) لیکنې ، شعرونه او خاطرې (د غیرت څیره) په نوم په یوه ټولګه کې راټولې کړم او د افغانستان آزادیپال اومجاهد ولس ته یې وړاندې کړم چې دا دی الحمدلله په دې کارسره بریالی شوم .

دا یو واقعیت دی چې غازي شیرخان (همراز) د روسانوسره د افغانستان د مقدس جهاد په دوران کې د اعلای کلمة الله ، د افغانستان دخپلواکۍ او په همدې هیواد کې د یوه سوچه اسلامي نظام د منځ ته را وستلولپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې او زحمتونه ګاللي دي او د روسانوسره د افغانانودسپیڅلی جهاد اومبارزې د بریالیتوب نه وروسته یې دالله (جل جلاله) لورته د دعوت اوبلنې لاره خپله کړه اوترهغه وخته پورې یې دوام ورکړترڅوله دی فاني دنیاڅخه یې سترګې پټې کړې چې په دغه یادو دواړو پړاونوکې یې ډیرلیکنې کړې وې اوهمدا راز یې دجهاد په ګرموسنګرونوکې ګڼ شمیر شعرونه لیکلی ؤ چې ځینې لیکنې شعرونه او خاطرې یې زما لاس ته راغلې په همدې اساس زما د ملګرو او د ده د درنې کورنۍ د غړوسره دمشورې په ترڅ کې می وپتیله چې هغه (د غیرت څیره) په نوم ترسرلیک لاندې په یوه ټولګه کې راټول کړم اوتاسو درنو او قدر وړ لوستونکو ته یې وړاندې کړم هیله لرم چې له ماحقیراو فقیربنده څخه خپلې دعاووې ونه سپموئ .

په درنښت

نعمت الله "پټانزی"

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی فصل

## د غازیانوخــاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږګران هیواد افغانستان دخپل ۵۰۰۰ کلن وجودي تاریخ په اوږدوکې د بیلابیلو یرغلګرو ترتاړاکونو اوبریدونولاندې راغلی دی، ترسکندرمقدونی فلیپ یې راونیسه ترچنګیزیانو،مغولیانو،ګورګینیانو،انګریزانو،سرورروسانو او امریکایانو پورې چې دا ټول د افغانستان د غیور ولس دغازیانو په توره اومیړانه سره له دی سپیڅلې خاوری څخه شړل شوی دي اویا هم شړلوته اړ شوي دي ،کله چې سکندرمقدونی د میلاد نه د مخه په (۳۳۰) ق م کال کې په لرغوني افغانستان یرغل وکړ او د افغانستان د نیولو لپاره دهرات ،کندهار،کابل او دیغمان له لارې د قفقازسکندریې (بګرام ) ته ورسید اوترهغه وروسته د افغانستان شمالي سیموته لاړ اوهلته ته یې د ای خانم د ښاربنسټ هم کېښود چې دشمالي سیموله تصفیې وروسته ختیځې خواته ولاړ او د نورستان اوکنړله لارې یې څان چترال ته ورساوه چې په دې منځ کې پنځه کاله تیرشول بالاخره سکندر د یوسفزو سره په جګړه کې په پښه ټپي شو او د سندسیند له لارې د مقدونیې په لور وخوځید او دلارې په اوږدوکې په داسې حال کې چې دافغانستان د میړني اوتوریالي ولس دټینګې ارادې، مبارزې اومقاومت څخه رنځیده ساه ورکړه .

همدا راز زمونږ د هیواد زرین تاریخ د ډیرو میړنیوغازیانو او اتلانو له ویاړ او برمه ډک دی چې وروستي نسلونه به یې تل په نیک نوم او پوره درنښت سره یادوي او په کارنامو به یې ویاړي ، په همدې اساس غواړم چې د افغانستان د ویاړلي تاریخ له زرینو پاڼوڅخه یو څو غازیان او اتلان په لنډه توګه در وپیژنم :

## ملي مشر میرویس خان نیکه

میرویس خان نیکه([1]) دشاه عالم خان هوتک زوی او دکرم خان هوتک لمسی او د نازو انا زوی ؤ چې په ۱۶۷۳م کال کې په کندهارکې زیږدلی دی ،میرویس خان نیکه دری ورونه درلودل چې عبدالعزیزخان،عبدالقادرخان او یحیی خان نومیدل ، همدا راز میرویس خان نیکه جعفرخان ابدالي له لور آغلې خانزاده سره واده وکړ.

زمونږ د هیواد ستر ملي مشر میرویس خان نیکه کله چې په ۱۵۰۲ ز کال کې د ایران صفویانو او په ۱۵۰۲زکال کې بابری(ګورګانیانو) د افغانستان په لورلاسونه را وغځول او زمونږ هیواد یې په بیلابیلو برخو وویشه نو؛ زمونږ سترمشرمیرویس خان نیکه د هغه په وړاندې تر یو لړ سلا او مشورو وروسته راپورته شو اود هغه په وړاندې یې ډیرنه ستړی کېدونکې هلې ځلې اومبارزې وکړې چې په پایله کې یې ګرګین و واژه اود

([1]) – په دې کتاب کې دملي مشرمیرویس خان نیکه،غازي وزیر محمد اکبرخان ،غازي ایوب خان ،ملالی، غازي محمدجان خان وردګ اوغازي امان الله خان په اړه د معلوماتو ځینې برخې له بینوا ویب پاڼې څخه اخیستل شوې دي.
[منبع:www.benawa.org]

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه دپلویانو د لاس وهنې لاسونه یې له افغانستان څخه رالنډکړل . اوبالاخره میرویس خان نیکه د۴۲کالو په عمر په ۱۷۱۵م کال کې په کندهارکې له دې فانې نړۍ سترګې پټې کړې او خپل نوم یې دهیواد په ځلانده تاریخ کې په زرینو کرښو ثبت کړ.




(ملي مشر حاجي میرویس خان نیکه)

**غازي وزیر محمد اکبرخان**

انګریزانو دری ځله زمونږ په پاکه خاوره تیری وکړچې هرځل یې د افغانانوله لاسه ماتې خوړلې ده. وزیرمحمد اکبرخان زموږ د هېواد د تاریخ یوه ځلانده ویاړلې څېره ده ، د افغان او انګلیس د لومړۍ جګړې ملي اتـل، د امیر دوست محمد خان زوی او د سردار پاینده خان بارکزي لمسی دی . غازي وزیر محمد اکبرخان ، زموږ د ولس د هڅو ، جنګ او جګړو د تاریخ هغه ځلانده څیره ده چې د انګلیسانو پر وړاندې د کابل د وګړو د پاڅون په لارښوونه او بري کې یې په سربښندنې ، رغنده اوهیوادپاله ونډه لوبولې ده ؛ خوپه خواشینۍ سره چې د وزیر اکبرخان له سرلوړۍ او ویاړونو ډک ژوند لنډ ؤ ، هغه لا اتلس کلن نه ؤ چې د یوه لښکر په سرمشرۍ یې د جلال آباد سرغړاوی واکمن له لنډ مقاومته اسیر ونیو، وروسته یې په کندهار کې په یوې مخامخ جګړې کې شاه شجاع دړې وړې کړ او انګلیسي جنرال کېمبل یې لومړی ټپي او بیا یې ژوندی ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(غازي وزیر محمد اکبرخان)

نوموړی شل کلن ؤ چې پیښور ته نیږدې د جمرود په جګړې کې د سیکهانو پر وړاندې یې توره له تیکي را و ایسته او په یوې لاس او ګریوان جګړې کې یې د سیکهانو سر لښکر هري سینګهـ و واژه او لښکر یې ور دړې وړې کړ. په ۲۲ کلنۍ کې د شاه شجاع او رنجیت سینګهـ د ګډ لښکر د مخنیوي لپاره د خیبر د درې پر لور ور ودانګل خو مخکې له دې چې له تیري کونکي لښکر سره مخامخ شي د هیواد د دښمنانو له پلوه ورته زهر ورکړل شول او د هغه نیم ژواندی جسد یې په کټ کې له خیبره د هغه پلار ته د ارغنده مورچل ته راووړ ؛ له ډیرو هڅو وروسته د مړینې له منګولو وژغورل شو، له هغه وروسته بخارا ته ولاړ او د پاچا په زندان کې بندي شو.

همدا زار دی ۲۴کلن ؤ چې د بخارا د پاچا له زندانه خلاص شو او په ۱۸۴۱ ز کال کې د نوامبر په ۲۵ نېټه یې د کابل د وګړو د پاڅون لارښوونه په غاړه وا خیستله، په ډیرې هوښیارۍ یې د انګلیس له سرچارواکي او ځانګړي استازي مکناټن څخه چې په درغلۍ او دوه مخۍ کې شیطان ورته هک پک ښکاریده ، د خپل استازي له لارې یو پټ لاسوند تر لاسه کړ ؛ دغه پټ لاسوند په خپله د افغان مشرانو په وړاندې د انګلیس دوه مخي او درغلنه څرګندوله او له همدې امله یې مکناټن وواژه او انګلیسان یې دې ته اړ کړل چې په بیړه له کابله ووځي ؛ دا هغه سیاسي – پوځي رسوایي وه چې بله بېلګه یې نه شو کولای د انګلیس د ستړواکۍ په تاریخ کې و مومو. د همدغو سیاسي او پوځي هڅو له امله ؤ چې وزیر اکبر خان دوه ځله د انګلیس د لاسپوڅو چوپړیانو له پلوه په ډزو وویشتل شو خو؛ داوړه ځله د مرګ له لومو ژوندی راووت، دا په داسې حال کې ورته پیښ شوې چې لا مخکې یې د بخارا د پاچا له لښکر سره په جګړه کې ټپونه له ځان سره وړل او دوه کاله یې د بخارا د پاچا په زندان کې تیر کړي وو.
وزیر اکبر خان خپل نیمايي دیرش کلن ژوند په ویاړ او سر لوړۍ د خپل هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا او د ولس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي واکمنۍ د ساتنې ، له يرغلگرو او د هغو له لاسپوڅو تاړاک پالو سره په نه پخلا کېدنې دښمنۍ تير کړ اود ژوند تر وروستۍ سلگۍ پورې د هيواد د يو والي او د هيواد د ښمنانو پـر وړانـدې، ځلانـده تـوره پـه لاس پـه ميړانه و دريد او د يوه مجاهد او غازي او د انگليس د نه پخلا کېدونکې دښـمن پـه توگـه د هغـه د ميړانـې ، درنښت او غيرت يادونه د ولس په زړونو کې تر دې کچې په څپو شول چې د ۱۸۴۱ څخه تر ۱۸۴۲ ز کال د ولسي پاڅون له بريا سره سم د ولس د جگړو او هڅو په وياړمنظومې بولې (حماسې) او رزمنامې ورته وليکـل شوې ؛ په [۱۸۴۳ ز کال کې چې له ۱۲۶۰ لمريز سره سمون خوري] حميد کشميري اکبر نامـه جـوړه کـړه او [قاسم علي د ډهلي د آگرې اوسيدونکي په ۱۸۴۶ ز کال کې چې لـه ۱۲۶۳ لمريـز سـره سـمون خـوري او د وزير اکبر خان د مړينې له نېټې سره برابره ده [اکبري ظفرنامه وويله ؛ چې د انگليس په وړاندې پاڅونونو کـې دغو دواړو شعري ټولگو د وزير اکبر خان نوم د يوه ملي اتـل په توگه د تاريخ په تلپاتې هبنداره کې لا تلپاتې کړ.

د هيواد ځوانانو اواوسني مخ په ودې نسل ته ښايي چې د خپلې پوهې د لوړ والي لپاره د خپل هېواد تـاريخ يو ځل بيا په ځير ولولي او ورته څرگنده شي چې زموږ هېواد د خپل تاريخ په اوږدو کې په ځانگړې توگه د اوسني تاريخ په سپيڅلې لمنه کې داسې ميړني او باتور بچې روزلي دي چې هيواد او ولس د هغوی په رغنـده سرښندونو وياړي .

**غازي ايوب خان او ميوندۍ اتله ملاله**

د افغان انگليس په دوهمه جگړه کې دسترغازي ايوب خان اوملالی پيغلې او نورو غازيـانوی ادونـه اړينـه بولم چې د ميوند په غزاکې يې انگريزان تيښتی ته اړکړل ،کله چې په ۱۸۸۰زکال کې د ميوندغزا دکندهارپـه ميوند ولسوالۍ کې پيښه شوه د همدې کال د جون په مياشت کې علماوو غازي ايوب خان په خپله گڼه فتـوا سره خپل امير وټاکه او د ده په نامه سکه ووهل شوه او خطبه ولوستل شوه٠

د ميوندجگړه د همدې کال دجولای پر ۲۷ نېټه بانـدې ونيښـته چې پـه دې جگـړه کـې ۱۳۰۰۰ انگريـزي پوځيان مړه او يو جگړن د مک لاين په نامه باندي ژوندی ونيول شو، چې په همدې کال انگريزانو يوځل بيـا په غازي ايوب خان باندی بريد وکړ او هغه يې شاتگ ته اړکړچې له کندهارڅخه ايران تـه لاړ چې لـه بـده مرغه ايرانيانو هغه د انگريزانوکونسل ته وسپاره اوهغه يې را ولپنلهی ته يوړ ترڅوهلته يې له دې فاني نړۍ څخه سترگې پټې کړې او له وصيت سره سم په پيښورکې خاورو ته وسپارل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې همدا جګړه وه چې زمونږګران هیواد یې له تجزیې وژغوره همدا راز ملالۍ پیغله دمیوند دجګړې ریښتنې اتله ده چې په خپلو دې خوږو او احساستي ټپو او لنډیو سره یې دمیوند جګړه بري ته ورسوله :



(مېوندۍ اتله ملاله)

که په میوندکې شهید نه شوې خدایږو لالیه بې ننګۍ ته د ساتینه

خال به د یار له وینو کیږدم چې شینکي باغ کې سره ګلاب وشرموینه

**غازي محمدجان خان وردګ**

همدا راز غازي محمدجان خان وردګ د افغان غازي ټولنې یو نومیالی غازي دی چې د افغان انګلیس په دویمه جګړه کې یې دتورې ځلا د استعمار ګر انګلیس سترګې وبریښولې او د نورو اتلو اوغازیانوپه ملتیا یې تېښتې ته اړکړل . غازي محمد جان خان وردګ دسیدال خان زوی او د اکرم خان لمسی چې د وردګو ولایت دجغتو ولسوالۍ د بیدمشك په کلي کې دنیا ته سترګې وغړولې او دزیږیدو نیټه یې کره معلومه نه ده ، نوموړی دوردګو په مبارزه غازي اوشهیدپاله ټولنه کې را لوي شو، بیا وروسته د هېواد او هېوادوالودخدمت اود فاع لپاره پوځ ته لاړ او دتوپ خانې دجرنیلۍ منصب ته ورسیده،کله چې د (۱۸۷۹) زکال په مې میاشت کې انګریزان کابل ته ننوتل محمدجان خان وردګ له یو ټولي عسکرو سره دکوهستان له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغي،پرآسمايي غره کې يې په انګريزانو بريدوکړ او له دې وروسته جرنيل محمدجان خان په غازي محمدجان خان وردګ سره ياد شو.



(غازي محمدجان خان وردګ)

خوځنګه چې دغه مهال يې دجنګ لپاره ټولی کوچنی ؤ ، نو ترسختې جګړې وروسته يې بيرته وردګوته په شاه تګ وکړ اوهلته يې له ملي اومذهبي مشرانولکه دغزني د شلګرو ملا دين محمد چې په ملامشک عالم مشهور ؤ او دخوات له ملاعبدالغفور لنګري اونورو مشرانو سره سلا مشورې وکړې اوترسترلښکر تيارولووروسته (۱۸۷۹از کال د ډسمبر پر لومړۍ نيټه بيرته کابل ته راغی پر انګريزانو يې بريد وکړ،تارومارو يې کړل اوسخته ماتې يې ورکړه.


کله چې پر(۱۸۸۰) زکال عبدالرحمان خان اميرشو، د مرکزي حکومت ترټينګيدو وروسته يې د غازيانو د له منځه وړلو په لړکې غازي محمدجان خان وردګ او ملاعبدالغفورلنګري د (۱۸۸۱) په وروستيوکې د دولت پرضد د توطيې په تور ونيول او مزارشريف ته يې تبعيدکړل چې ډير ژر د دغو دواړو د مرګ خبرخپورشو .

داسې ويل کيږي چې د دغه خبر د خپرېدو پرمهال غازي محمدجان خان اوملاعبدالغفورلنګري د امير عبدالرحمن په امر بلخ ته نږدې په عبده کوتل کې ووژل شول ، مخکې يې قبر معلوم نه ؤ خو؛ دکابل- بلخ دلويې لارې دجوړيدو پرمهال د اروابنادجمال الدين خان وردګ چې د سالنګونو دجوړيدو د پروژې مشري وربه غاړه وه ، دنوموړي په هڅو سره لومړني معلومات د همدې سيمې له مشرانو اوسيدونکوڅخه ترلاسه کړل ،چې په دې وروستيو کې د وردګو دقومي مشرانو په وړانديز او بلخ ولايت د اطلاعاتو اوکلتور رياست

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاملرنې په اساس دغازي محمدجان خان وردګ مقبره دتاریخي آبداتو په نوملړکې ثبت او د هغه دمقبرې اوآرامځای د جوړولو لپاره بودجه ځانګړې شوې ده او د رغیدو چارې یې روانې دي.



(دغازي محمد جان خان وردګ دمقبرې نقشه)

**غازي امان الله خان**

زمونږد هیواد د غازیانوپه لړکې غازي امان الله خان یوداسې لاربښود دی چې تل پرهیواد،خپلواکۍ اوخلکومین ؤ، غازي امان الله خان دخپلواکۍ دبیا ترلاسه کولو سره نه بیلودونکې تړاو لري . د افغانستان شریف ولس د غازي اعلیحضرت امان الله خان نوم اود هغه دهیواد پالنې بې سارې شخصیت په ژور درنښت یادوي او د زړه له تله ورته درناوی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library






(غازي امان الله خان)

شک نشته چې کــه هغه دخپل هېواد دخپلواکۍ لپاره د انگریزپه وړاندې وگړي جهادته نه وای رابللي او د خپلو مخکنیو په شان یې له انگریزسره جوړجاړی کړی وای اود هېواد په چاروکې یې د هغوی لاربښوونو تـه غاړه ایښودلې وای، ښایې د ژوند ترپایه د افغانستان دپاچاپه توگه پاتې شوی وای اوترهغو چې انگریزانونه وای غوښتي ، هېڅ چابه د هغه دځای ناستۍ لپاره سرونه نه وای پورته کـړي .خـو هغـه چې پرخپلـواکۍ او دخپـل هېواد د وگړوپرسرلوړۍ مین ؤ د پاچاهۍ دغه تخت اوتاج یې د هېواد د خپلـواکۍ پـه لاره کـې کېښـود او د تاج په سرکولو په لومړۍ اونۍ کې د عیدگاه په لوی جومات کې د کابل سپېڅلوښاریانواو د دولت مـأمورینو ته په خپلې لومړۍ څوساعته وینا کې د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ غږپورته کړ او خپله پاچاهۍ یـې د هیـواد دبشپړې خپلواکۍ په شرط اعلان کړه او ویې ویل:(لومړی خپل سپیڅلي ولس ته اعلان کوم او زیری ورکـوم چې زه د افغانستان د پاچاهۍ تاج د افغانستان د کورنۍ اوبهرنۍ خپلواکۍ په سپیڅلي نوم پرسـر بږدم). وروسـته یې د افغان له آزادیپالـ ولـس څخـه وغوښـتل چې د دغـې ملي هېلې پـه ترسـره کولـو کـې هغـه تـه لاس ورکړي.اعلیحضرت امان الله خان د کابل ښاریانو ، سرتیرو او مأمورینو ته دخپلې یوې بلې وینـا پـه تـرڅ کـې چې د سفربري جامې یې په ځان کې وې د عیدگاه په جومات کې وویل :گرانه ولسه! زه به د سـرتیرۍ دغـه جامې ترهغو له ځانه ونه باسم چې دهېواد د سپیڅلې مور پرځـان مـې د خپلـواکۍ جـامې نـه وي ور پـه ځـان کړي. زه به دغه توره په تیکي کې کښـېـنـږدم چې د ولس د حقونو لوټونکي مې پرځای یې نه وي کښېنولي! اې زما سپیڅلیه ولسه ! او اې زما سربښندویو سرتیرو! د هېواد د ژغورنې لپاره خپله وروستنۍ شـتمني را ډگرتـه کړئ، راځـئ چې خپل میړني سرونه دهېوادپه سپیڅلې لاره کې قربان کړو!)

(c) ketabton.com: The Digital Library


غازي امان الله خان ولیدل چې انګریزانو د افغانستان د رسمېت پېژندلو په اړه دهغه لیک ته چې له نورو خپلواکو هېوادونو سره د یوه خپلواک او کور واک هېواد په توګه برابرحقونه ولري، ځواب ندی ورکړی ، نو د ۱۹۱۹ کال د اپریل د مېاشتې پر ۱۳ نېټې چې د انګلیس سفیر هم په هغې غونډې کې ناست ؤ د یوې ویناپرمهال وویل : (زه ځان اوخپل هېواد له کورني او بهرني اړخه په بشپړ ډول خپلواک اعلانوم. وروسته لدې زموږ هېواد د نړۍ د نورو دولتنو او ځواکونو په څیر یو خپلواک هېواد دی او د سر د یوه ویښته په اندازه هیڅ ځواک ته اجازه نه ورکول کېږي چې د افغانستان په کورنیو اوبهرنیوچاروکې لاسوهنه وکړي او که څوک دغسې یوګام پورته کړي نو پردغه توره به یې غاړه ور غوځه کړم) او بیا یې مخ د انګریزسفیرته ور واړاوه او وېې پوښتل :(څه مې چې وویل پوه شوئ!) د انګلیس سفیر په ډېردرناوي ځواب ورکړ:(هو پوه شوم.)

وروسته ځوان پاچا د خپل برخلیک د ټاکلولپاره له انګریزسره د جهاد ملا وتړله. د ځوان پاچا دغه نوښتګر غبر ته پر خپلواکۍ مېن افغان مسلمان ولس په خوښۍ ځواب ورکړ او د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په لاره کې یې د سر او مال په ځارولو او سرښندنې د هغه وخت د نړۍ له لوی ځواک یعنې انګلیس سره د جګړې چمتوالی ونیو.

غازي امان الله خان په پرله پسې ټوګه د انګریزپه وړاندې دکابل د وګړو اوګڼ شمیرټولنېزو طبقو ترمخ ویناوې کولې او د ولس له سرښندویه هرکلي سره مخامخ کېدلې. د عېدګاه په جومات کې په یوې ویناکې داسې وویل: (د افغان زړه وره اوپه لوی څښتن مَینه ولسه! اې زمریو! د بریتانیې حکومت په درغلۍ او بې شرمۍ دوه ځله زموږ پرهېواد یرغل وکړ اوغوښتل یې خپلې ککړې منګولې په سیمه کې ښخې کړي، اوس غواړي چې زموږ ټاټوبی چې پلرونه مو پکې ښخ دي لوټ کړي، زموږ پر تم،ننګ او هم زموږشخصیت او افغاني ځانګړتیا له منځه یوسي ، غواړي زموږخپلواکي اوښیرازي له منځه یوسي ....) دپانګوالی پر وړاندې د پاچا زیږو اوشدیدو ویناوو د وګړو په منځ کې د هغه منښت اوګرانښت لا پراخه کړ. یوه ورځ وروسته د کابل ښار په زرګونو ښاریانو د حبیبې د ښوونځي له زده کوونکوسره یوځای د انګلیس د سفارت ترمخ لاریون وکړ اود انګلیس په وړاندې یې غبرونه پورته کړل . همغه ؤ چې غازي امان الله خان د مکار اوپیژندل شوي دښمن څخه دخپلواکۍ دبیرته ترلاسه کولو لپاره ددریمې جګړې اعلان وکړ او دافغانستان زړور اولس یې دمبارزې میدان ته را وباله.

د افغانستان هېوادپالو خلکو د ځوان پاچا دغې غوښتنې ته ځواب ووایه او د ۱۹۱۹ کال د مې د مېاشتې تر ۳ نېټې پورې یو ۶۰ زره ځواک جوړشو، دغه ځواک د هېواد له ګڼ شمیر توکمونوڅخه جوړ شوی ؤ او هغوی د ورورۍ او خپلواکۍ غوښتنې په ګډو احساساتو له خپلو زړو وسلوسره چې دانګلیس په دویمې جګړې کې یې ترلاسه کړې وې جګړې ته ملا وتړله. نا روزل شوی ۴۰۰۰ یز توپچې ځواک له خپلو زړو وسلواو ډیرو لږو تجهیزاتو سره له دغه کوچني پوځ سره ملګری وو. خو دښمن څه وکړل؟ دښمن د دغه کوچني ناروزل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوځ پروړاندې لومړی ۳۲۰ زره او وروسته یې ۷۵۰ زره روزل شوي سرتیري او افسران چې لـه ۱۸۵ تـر ۴۵۰ زرو باروړنکي څاروي هم ورسره وو او پرهغوی یې خپلې وسلې ایښودلې وې او له سـلګونو جنګـي الوتکـو سره له افغانستان سره دجګړې په موخه د افغانستان سویلي اود سویل لوېدیځو کرښـو پـرمخ یـې راوخوځـول. دافغانستان پوځي وسایل او د پوځ جنګي مهماتو د بریتانیې لـه وسـلو سـره چـې پـه پرمختللـو وسـلو اوجنګـي الوتکوسمبال وو په هېڅ راز برابروالی نه درلود خو له دغـه څرګنـدپوځي کمښـت او نـابرابروالي سـره سـره د افغانستان پوځ د ناتارګرو تیري کوونکو په وړاندې له ځانه اتلواله مقاومت څرګند کړ.

د انګلیس له نېواک سره د افغانستان د ولس او د خپلواکۍ لپاره اتلواله پاڅون چې له لومړۍ نړېوالې جګړې څخه په هسکه غاړه راغلی وو د ولس ملي هېوادپالو احساساتوته نوې ساه وبښله او د هېواد د خپلواکۍ د لړۍ د پاڅون لمنه په بې ساري توګه پراخه شوه. لـه پښـتنو توکمونـو څخـه خپلخوښـو جنګیـالیو د خیبرلـه غاښـي تربلوچستانه د بریتانوي نېواک ګروپه وسله والوځپلو اوشا تمبولو کـې سـتره ونـډه ولوبولـه. د خپلـواکۍ دغـه پاڅون ته د بریتانوي هند وګړو ښه راغلاست ووایه. په توکمېزو سیموکې پراته د بریتانیي په لښـکرکوټونوکې هندي سرتیري د افغانستان پوځ ته را وا وښتل. په همدې وخت کې دبمبیي، لاهور،امرتسر او د نېمې وچې پـه نورو ښارونو کې د نیواک ګرو د ځان غټاوي پر وړاندې د هند د وګـړو نـا آرامـي او کاربنـدي د انګلـیس د تیري کوونکو د روحیې په تضعیف اود چال چلند په بدلون کې بـې اغیـزې نـه ول.دلتـه ده چـې د انګـیس د نېواک په وړاندې د وګړو دَرېدنه اومقاومت، انګریزان اړکړل چې په راولپنډۍ کې د سولې د خبرو اترو لپاره اوربند ته غاړه کېږدي(۳جون ۱۹۱۹)په دغسـې یـوه حالـت کـې چـې د افغانـانو د جګـړو د اهمیـت پـه اړه د بلشویکانو یوه مشر وویل: (د پانګوالي د زبېښاک په حالت کې د ولسي پاڅون د انقلابي مورچل اړیـن شـرط دا ندې چې په غورځنګ کې دې هرومرو جنګیالي ګډون ولري اوګنې غورځنګ دې یا ولسپاله یـا انقلابـي تګلاره ولري اویا دې پردموکراسۍ ډه ډه لګولې وی. له څرګند اړخه که ورته وکتـل شـي نـو د افغانسـتان د خپلواکۍ لپـاره د افغـان امیـر جګـړه سـره لـدې چـې دی او ده تـه نیـږدې دوسـتان اوملګـري یـې د پاچـاهۍ غوښتونکې دي، بیا هم یوه انقلابي جګړه ده، ځکه دغه جګـړه پـانګوالي شـاړې واړې کوي،څـواک یـې لـه ویشاک سره مخاموي اوسټه یې ورباسي ) هرګوره د غازي اعلیحضرت شاه امان الله خان د سپېڅلي هېوادپالنې اویو ژبې مشرۍ ترسیوري لاندې د افغانستان سیاسي خپلواکي ترلاسه شوه او یوځل بیا افغانستان خپل له لاسـه تللی نوم او پرتم ترلاسه کړاو د نړۍ د خپلواکوهېوادونو په کتارکې ودرېد(د ۱۲۹۸ل کال د زمري د مباشـتې ۲۸ چې د ۱۹۱۹ ز کال د اګست د مباشتې له اتلسمې سرسمون خوري)، او له دغې ورځې وروسته افغانانو داګست ۱۸ چې د زمري د مباشتې ۲۸ کېږي دهېواد د خپلواکۍ د بیاترلاسه کولو ولسي ورځ وبلله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غازي شیرخان "همراز"

غازي شیرخان همراز د ارواښاد الحاج ملك رسول خان زوی او د غلام حیدرخان لمسی دی چې په (۱۳۴۴) هجری لمریزکال کې د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالی د اونخي درى د یاویز په کلي کې په یوه دینداره ، درنه او مبارزه کورنۍ کې زیږیدلی دی.



(غازي شیرخان "همراز")

ارواښاد غازي شیرخان (همراز) د روسانوسره د افغانانودجهاد د سنګرونو زمری ؤ چې د ژوند اوځوانۍ ډیرې شیبې یې په دې لاره کې تیرې کړې نوموړی دهیواد په ګوټ ګوټ کې لکه د وردګو،لوګر،کابل ،ننګرهار،کنړ،زابل،کندهار،هلمند اوهرات په ولایتونوکې د دروسانو اوکمونستانوپه وړاندې ډیرسترې مبارزې کړې دي اوپه زیاترو تعرضي عملیاتوکې یې ګډون کړی دی اوګڼ شمیر فتحې او بریاوې لاس ته راوړې دي ، ده د جهاد په دوران کې د هیواد دجهادي رهبرانو، قومندانانو اوهمسنګرانو مجاهدینو لخوا د غازي لقب ګټلی ؤ او د غازي شیر په نوم یې شهرت موندلی ؤ اوځوځښله یې د هیواد په کچه جهادي ویاړونه اوډالۍ لاس ته راوړې وې او د جهادپه سنګرونوکې یې زیاتره وخت مجاهدینوته تخنیکي مشورې اوترینینګونه ورکول او د چوریکي جنګ په اړه یې مناسب اوځانګړي مهارتونه درلودل ، ده په ۱۴کلنۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجهادسنګرونوته وردانګلی ؤ او د مجاهدینوتر بریالیتوب پورې یې په دې لاره کې پل ایښی ؤ اوهرډول مادي اومعنوي مرستې یې له مجاهدینوڅخه ونه سپمولې، د طالبانو داسلامي تحریک  تر راتګ وروسته له همدې ډلې سره یوځای شو او په دې لارکې یې دشر اوفساد پر وړاندې نه ستړې کیدونکې مبارزې وکړې او دافغانستان داسلامي امارت ترسکوت وروسته د زړه دناروغۍ له کبله دبلنې اودعوت لاره ونیوله د هرچا سره یې په ډیره مینه او اخلاص خبرې کولې تل به دحقیقت په لټه کې ؤ اوپه افغانستان کې دخپلواکۍ په رڼاکې دیوه عادل او اسلامي نظام چې دسولې اوپرمختګ پدیدوته ژمن وي غوښتونکې ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم فصل

---

## غازي شیرخان"همراز"دجهاد په غلبلوکې

---

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د روسانو اوکمونستانو پر وړاندې جهاد اومبارزه**

کله چې په ۱۳۵۷لمریزکال کې دثور(غویې) دمیاشتې په اوومه نیټه نورمحمد تره کی دیوې نظامي کودتاه په ترڅ کې دچارو واګې په لاس کې واخیستې اودخپل رژیم نوم یې دافغانستان دخلق دموکراتیک جمهوریت کېښود نو؛ په دغه وخت کې د افغانستان پتمنو خلکو، دهیواد په ګوت ګوټ کې د دغه منحوث نظام پر وړاندې دجهاد اومبارزې اعلان وکړ چې شعارېې کور،کالي او ډوډۍ ؤ اوپه افغانستان کې یې د روسانوپه مرسته دکمونستي مفکورې دپلي کولوهوډ درلود اوله دې لارې یې غوښتل چې د افغانستان مظلوم اولس د وینوپه ویالوکې ولمبوی (شعارېې کورکالی ډوډۍ ؤ-کوریې شو ګورکالي کفن ډوډۍ غمونه) په دې مهال کې دغازي شیرخان همراز مشر ورور معلم دریاخان دخپل پلار الحاج ملک رسول خان په لارښوونه له مجاهدینو سره یو ځای شو ، چې د اونخې په دره کې دکمونستانو پرووړاندې دپاڅون له لومړنیو کسانو څخه ؤ([2]) چې د جهاد اومبارزې میدان ته یې ور ودانګل چې په دې وخت کې دکمونستانوپه دوره کې نورسیاسی تحولات هم ترسترګوکېدل هغه داچې نورمحمد تره کې د ۱۳۵۸لمریزکال د وږي ترمیاشتې پورې د دولت په مشرتابه کې پاتې شو او په ګوندکې یې د ننه د را ولاړشوي اړ و دوړ په پایله کې دحفیظ الله امین په دستور ووژل شو، حفیظ الله امین د۱۳۵۸ لمریزکال د وږي له میاشتې نه د همدغه کال د مرغومې ترمیاشتې پورې د درې میاشتولپاره دافغانستان د خلق دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا دمشرپه توګه د چارو واګې په لاس کې لرلې ، دحفیظ الله امین حکومت د۱۳۵۸ لمریزکال د مرغومې د میاشتې په شپږمه د وخت د شوروی اتحاد د پوځ د مستقیم یرغل په واسطه له منځه یوړل شو، د۱۳۵۸لمریزکال دمرغومې په شپږمه د وخت د شوروی اتحاد سرولښکرو ببرک کارمل له شوروي څخه له ځانه سره راوست او دګوندعمومي منشي اود افغانستان دخلق دموکراتیک ګوند د انقلابي شورا د رئیس په توګه یې وټاګه، غازي شیرخان همراز په همدې وخت کې دخپل مشر ورور چې مخکې یې یادونه وشوه او د همدارنګه دخپل ناسکه تره اروابناد الحاج مولوي خواني ترمشرۍ لاندې چې دسیدآباد ولسوالۍ د اونخې په دره کې دحزب حرکت انقلاب اسلامي افغانستان قائید ؤ د جهاد او مبارزې میدان ته په ډېر خرپ اوترپ سره ور ودانګل او د مجاهدینو له لورې یې تود هرکلی وشو،کله چې ببرک کارمل هم دخپل حزب د سیاستونوتطبیقولو ته ادامه ورکړه او د ۱۳۶۵ لمریزکال دغوایي ترمیاشتې پورې په واک کې پاتې شو.په شوروی اتحادکې د سیاست د بدلون په راتګ سره ببرک کارمل له واک نه ګوښه شو او ډاکټرنجیب الله د هغه پرځای واک ته ورسید، نجیب الله د۱۳۶۵لمریزکال دغوایې له میاشتې نه د۱۳۷۱لمریزکال د وږي ترمیاشتې پورې د افغانستان د دولت

---

([2])- لکه څرنګه چې ښاغلي حسن جان (حیران) په خپل کتاب (د رڼا لاروی) کې دغازي شیرخان همراز مشر ورور معلم دریاخان دسیدآباد ولسوالۍ داونخې په دره کې دروسانو او کمونستانو پرووړاندې د افغانستان دمبارز اوآزادیپال ولس دبرحق جهاد په درشل کې د همدې درې دمجاهدینو په نوملړکې ښودلی دی.[منبع:د رڼا لاروی، لیکوال حسن جان حیران ، چاپ کال،۱۳۹۷ل]

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارې په واك كې لرلې، خو؛ غازي شيرخان همراز په دغه ټولو دوروكې خپلى مبارزې اوجهاد ته د هيوادپه مختلفو برخولكه (وردګ ،لوګر،كابل ،ننګرهار،كونړ،زابل ،كندهار،هلمند اوهرات...)كې دوام وركړاو په ډيرو حساسو اومهموجنګونوكې يې ګډون درلود اوترهغه پورې يې په دې لاره كې قدمونه كېښودل ترڅو روسان د لوى خداى (ج) په مرسته او دافغانستان د غيور اولس په ټينګه اراده سره د۱۳۶۷لمريزكال دسلواغى په ۲۶ نيټه زمونږ له هيواد څخه په ټيټوسترګو ووتل د وخت دشوروى اتحاد د لښكرو تروتلو وروسته د نجيب الله رژيم له نورو دريوكلونو نه هم زيات دوام وكړترهغه وخته چې د مجاهدينو رهبران كابل ته ننوتل او د۱۳۷۱لمريزكال دغوايي په اتمه نيټه يې سياسي واك ترلاسه كړ، هغه تردې مودې پورې د جهادپه سنګرونوكې وجود درلود او دمجاهدينو په برياليتوب سره يې ډيره خوښي څرګندوله اوهيله يې درلوده چې د افغانستان د سرلوړي اومجاهد ولس په زيار او د لوى خداى (ج) په مرسته اوكمك سره به په دې جنګ ځپلي هيوادكې يواسلامي نظام منځ ته راشي چې دهغه په راتګ سره به په افغانستان كې سوله امنيت اوعدالت قايم شي،او يونيم مليون شهيدانو ، بې شميره يتيمانو،بې شميره كونډورنډو او بې شميره معيوبينو اومعلولينو اوبې شميره مهاجرينو دردونه به آرام وموميي كوم چې له روسانواو د هغه دګوډاګيانو سره د څوارلس كلن جهادپه دوران كې ورسره مخامخ شوي ؤ، خوله بده مرغه چې داسې ونه شول هغه چاچې په لومړي سركې هم مجاهدين نه ؤ ځانونه يې د افغانستان غيور ملت اوټولې نړۍ ته وشرمول او دواكمنى په سريې يوله بل سره جنګونه اوجګړې پيل كړې اودا هيواد يې نورهم د مظلوموافغانانوپه وينو ورنګاوه اوپه يوه كنډاوله سره يې بدل كړه،كله چې مجاهدين بريالى شول اوپه پلازمينه كابل كې دقدرت په ګډې كېناستل په دې وخت كې غازي شيرخان همراز د افغانستان د غيورملت اوخلكو اوهغه شهيدانوچې په دې لاره كې يې سرونه قربان كړي اوهغه مجاهدينوچې يوازې دالله(ج) د رضا اوهيواد د خپلواكۍ اوپه دې خاوره كې د فساد دله منځه وړلولپاره يې نه ستړې كېدونكې هلې ځلې او زحمتونه ګاللي ؤ ډيرپه كلكه ستاينه اويادونه كوله او هر وخت به يې د هغه د سرښيندنوڅخه كېسې اونكلونه كول د هغه يولنډشعردلته ذكركوم ،كوم چې ده مجاهدينوته په كې د برياليتوب مباركي وركوله :

غــــړمې دتكبيرله غــرونو ورسيد ښـــــارونوته

چا د لويوغرو سيلاب جګ كړى بيرته غرونوته

دښتــې، ونې ،بوټي دتكبيرچيغې نارې وهي

دا دشګـــتوبندكلــــه ټينګيږى دريـــــابونوته

مينې ديوسف كه ديعقوب سترګې ړندې كړلې

بيايې موند آخر يوسف د وخت پاتې يادونوته

(c) ketabton.com: The Digital Library


نن وي که سباوي د دښمــن بیړۍ غـرقیږي به

د اوس نه (همراز) وايي تبریک مجــاهدينوته

( همـــراز)



(په انځورکې له کین لوري لومړي تن غازي شیرخان "همراز" له خپلو مجاهدو ملګرو سره )

غازي شیرخان (همراز) دمجاهدينو دخپل منځي نـاخوالو د زياتيـدو لـه کبلـه د ايـران اسـلامي جمهوريـت تـه مهاجرشو او تر يوڅه وخت وروسته د طالبانو داسلامي تحریک له راتګ څخه څه مـوده ورسـته بیرتـه خپـل ګران هیواد افغانستان ته راستون شو.

**غازي شیرخان د طالبانو له اسلامي تحریک سره**

غازي شیرخان په ۱۳۷۷ کال کې دطالبانو د اسلامي تحریک سره یوځای شو او دپکتیکـا ولایـت دپخـواني والي ښاغلي کرامت الله آخوند زاده په ملګرتیا اوبلنه يې د شـر او فسـاد پـه وړانـدې د مبـارزې لـومړي لیکـې (خط) ته ور ودانګل او په دې لارکې يې نـه سـتړې کیـدونکې هلـې ځلـې او مبـارزې وکـړې او د طالبـانو د اسلامي امارت تر سکوت وروسته د ايران اسلامي جمهوريت تـه لاړ او د دوه کلنـو مهـاجرت وروسـته بیرتـه هیواد ته راستون شو په داسې حال کې چې دزړه ناروغي يې درلوده یـو څـه وخـت وروسـته پیښـور ښـارته د درملنې لپار لاړ او د زړه عملیات يې د مجربو ډاکترانو له خوا ترسره شو او بیرته خپل پلرني ټاټوبي ته راستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او له دې وروسته يې د دعوت اوبلنې لاره ونيوله او په تبليغي حلقـو کـې يـې فعالـه برخـه اخيسـتله او د دعوت لاره يې خپله کړه اوترهغې دوام ورکړترڅويې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې .


**غازي شيرخان د لښکرايټار يو نمونوي مجاهد ؤ**

غازي شيرخان همراز د لوګر ولايت دتنګي واغجان په سيمه کې دلشکرايټار دځانګړي کنډک په چوکاټ کې دګران هيواد د ښکيلاک ګرو په وړاندې دجهاد ،مبارزې او مقاومت يوه بې سـاري نمونـه وه ، نومـوړي دشوروييانو ديوه عسکر تر پاتې کيدلو او دهغوی دلاسپوڅو تـر پـاتې شـونو دټغـر ترټوليـدلو پـورې سـلاح پـه ځمکه کينښوده او په دې لارکې يې جهاد او مبارزې ته په ګرمو ولولو سره لبيک ووايه ، نوموړي دلـوګر پـه ولايت کې د اسلام ددښمنانو او ښکيلاک ګرو (روسانو) او دهغوی دګوډاګيـانو پـر وړانـدې نـه هيرودونکـې مبارزې او اتلولۍ له ځانه وښودلې ، په ډيرو سختو او ترينګلو حالاتو کې يې دنـورو مبـارزو مجاهـدينو ورڼـو ترڅنګ يې خپله ايماني او افغاني وجيبه اداء کړه او دمکار دښمن په وړاندې يې په ډيرو تعرضي عمليـاتو کې ونډه درلوده په همـدې اسـاس دلوګرپـه ولايـت کـې ددښـمن يـوه مشـهوره پوسـته چـې دمجاهـدينو تـرمنځ دشهيدانود پوستې په نوم يې شهرت درلود د غازي شيرخان او ورسره ملګرو په جهادي اونظامي تکتيک سـره فتحه شوه او د تل لپاره د مجاهدينو لاس ته ولويده ، په همدې خاطر نوموړې پوسته د غازي شيرخان پـه نـوم ونومول شوه چې د روسانو اود هغوی دلاسپوڅو لخوا به هر وخت مجاهدينو ته مالي اوځاني تاوانونـه رسـيدل او ګڼ شمير مجاهدين دهمدې پوستې په فتحه کولو باندې شهيدان شول.

په وروستيو دريو لسيزو کـې پـه اوردو اوسياسـت بانـدې د نقـد "تـاريخ مسـخ نمـې شـود" [لـومړی چـاپ: ۱۳۷۹پيښـور] کتـاب ليکوالـ ښـاغلي ډاکترشيرشـاه يوسـفزي دحـزب اسـلامي افغانسـتان ځـانګړی کنـډک (لشکرايټار) د شورويانو اودهغوی دګوډاګيانو پر مخ دماتې دخپيړې سـترګذار بللـی دی ،لشـکر ايټارپـه ۱۳۶۷ هجري لمريزکال کې دلوګر ولايت په تنګي واغجان کـې د دښـمن پـر وړانـدې دمهمـو تکتيکـي اوتعرضـي عملياتو لپاره جوړ شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






(دنوموړي کتاب دپښتي د لومړي مخ په انځور کې له ښي لوري لومړي تن چې انځوريې نیمایي راغلی غازي شیرخان دی.)

غازي شیرخان د دښمن پر وړاندې په ډیرو تعرضي عملیاتوکې ګډون درلود چې په دې تـرڅ خوځـو ځلـه زخمي شو چې یوځل دلوګر په تنګي واغجان کې په تعرضي عملیاتوکې ټپي شوی ؤ ماتـه یـې دځـان پـه اړه داسې کیسه وکړه: (دملګرو سره یوځای د دښمن پروړاندې دتعرضي عملیاتو لپاره روان شو،تعرض مو پیل کړ دښمن مقاومت وکړ ډیره سخته نښته رامنځ ته شوه ،ګڼ شمیر مجاهدین شهیدان شول زه په ښنه ولګیدم مرمی مې دپښې له لنګي بلې خواته ووته ډیرسخت ټپي شوم په ځمکه راپریوتم ،به زړه مې سسـتي راغلـه پـه جیـب کې مې یوسپین رویمال ؤ په بیړه مې راویست اوپښه مې ډیره کلکه پرې وتړله دوینې دضایع کیدو جریان یې بطی شو ، دښمن ته مخامخ په ځمکه پروت وم په دې حال کې دوه روسان جوړه زما لوري ته را روان شـول داسې فکريې وکړ چې سړی ختم دی دوی ښه نږدې راغلل هدف یې دا ؤ چې له اونورو شهیدانو مجاهـدینو څخه اسلحه راټوله کړي زما سره یومیل کلاشینکوف او یو آر- فی – جی راکیټ ؤ ، سم دلاسه مې دراکـټ فیر ورباندې وکړ دواړه مې باد باد کړل او همدې وخت کې دلشکرایثار ددوهم کنډک شاه زلمیان راورسیدل او ددښمن پر وړاندې یې مقاومت پیل کړ دښمن په شا وتمبیده او مجاهدینو شهیدان او ټپیان دجنګ له میدان څخه انتقال کړل ، زه یې تر پیښوره ورسولم په روغتون کې مې پښه عملیات شوه او تریوځـه وخـت وروسـته روغ شوم اوبیرته له مجاهدینو سره یوځای شوم.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لښکرایثار د بریالیتوب لاملونه**

غـازي شـیرخان همـراز د روسـانواو د هغـه دلاس پوځوغلامـانو پـه وړانـدې دمقـدس جهادپـه دوران او د لښکرایثارپه چوکاټ کې د وطن دآزادۍ اودیوه اسلامي نظام دمنځ ته راوسـتلولپاره پـه سـنګرونوکې د نـورو مجاهدینوسره اوږه په اوږه جهاد ته ادامه ورکوله نوموړی د لښکرایثار په جوړښت او د هغه په بریالیتوبونوکې مهم رول درلود اوپه هغه کـې پـه خپـل ګـډون ډیرخـوښ ؤ لـه همـدې املـه ده د نومـوړی اسـلامي لښـکر د بریالیتوب لاملونه دیادښتونو په کتابچه په لاندې توګه بیان کړي دي :

۱. په ټولوهلوځلو(سنګرونو)کې د مجاهدینو ورونو هدف یوازې او یـوازې دخـدای (جـل جلالـه) رضـا اود اسلام مقدس دین ته صادقانه خدمت کول ؤ،عزت یې په اسلام اوجهادکې غوښـته اولـه هغـه پرتـه ورتـه ذلت ښکاریده .
۲. د مجاهدینو یوالی(اتحاد) او ورورولي په ټولوفتوحاتوکې بنسټیز نقش درلود،هرمجاهـد ورورخپـل مجاهـد ورورترځان غوره ګاڼه اوپه دفاع کې ورته له خپل سرځخه تیر ؤ اوخپله هوساینه اوخوشـحالي یـې دخپـل مسلمان مجاهد ورورپه هوساینه اوخوشحالۍ کې لیدله .
۳. ټولومجاهدینو ورونو په دې عقیده درلوده چې که چیرې له کفاروسره پـه جګـړه کـې مړشـي نـو؛ شـهید اوځای یې جنت الفردوس دی اوکه ژوندی پاتې شـي نـو؛ غـازي دی او د اجـر اوثـواب پـه څنـګ کـې دغنیمت خاوند هم ګرځي؛ترڅوچې د غنیمتونو ویش دقرآني هدایاتو له مخې دعدل اوانصاف پـه اسـاس کیده هرمجاهد د الله (جل جلاله) د دین په لاره کې هرډول سرښیندنې اوځان تیردنې تـه پـه ډیـراخلاص سره حاضریده کله چې غنیمت بند شو او دغنیمـت مـال دبیـت المـال وګرځیـده نـوځینې مجاهدینوتـه دا پوښتنه راپیدا شوه چې که موپه غنیمت کـې حـق نـه وي نـو؛ زمونږجهـاد ونـه شـواو دا جنـګ دی خـو؛ مونږجنګ ته په هیڅ صورت سره تیارنه یو اوسم د لاسه استعفاء ورکوو.
٤. د لښکرایثار ټولو مجاهدینو په دې عقیده درلوده چې د مرګ نیټه نه وړاندې کیـږي اونـه وروسـته کیـږي بلکه په خپل ټاکلي وخت سره راځي نو؛ ځکه یې په ډاډه زړه دجګړې اومبارزې ډګرته وردانګل .
٥. په ټولوفتوحاتوکې د مجاهدینو ورونوتکیه په الله (جل جلاله) باندې وه نه په وسله او امکاناتوسره .
٦. د رازساتل اوپه جنګي چاروکې مشوره کول هم د فتوحاتو عمده اواساسي عامل ؤ.
۷. په مجاهدینوکې یوښه نظمي وحدت اورهبري اوقوماندانـي تـه غـاړه ایښـودل ؤ چـې تـل بـه دجګـړې لـه ډګرځخه بریالي راستنیدل.
۸. همدا راز د هر ډول اسلحو دکاروني مهارت د مجاهدینو د بري ستر زیری ؤ.
۹. هراړخیزکوښښ ،تلاش اوزحمتونه (لوږې ،تندې اوستومانۍ) او د هرډول نورو ستونزوسره مبـارزه یـوازې دالله (جل جلاله) د رضا لپاره وه. اوبس!!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دریم فصل

## ځانګړې خاطرې اوله ادبیاتو سره مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دامــه وژنه!!**

دا مه وژنه !! دا د اسلامي انقلاب زامن او د خدای (جل جلاله) دلارې او د خپلواکۍ دګټلو مجاهـدین دي دا مه وژنه!! دوی د روسانوسترڅواک ته ماتې ورکړې ده او د هغه سرې لښکرې یې له خپل هیوادڅخه شړلې دي له ټانګونو سره یې ډغرې وهلې دي د دښمن مرمیوته یې خپلې سینې سپرکړې دي دامه وژنه !! دوی زما اوستا د هیواد پت ،عزت،غیرت ،میړانې اود ننګیالیتوب شـمله لـوړه سـاتلې ده ، دا دآزادۍ دعظمـت د ژونـد مینارونـه دي ،د تـورې اومیړانـې نښـانې دي ،اود اسـلامي انقـلاب د زریـن تـاریخ ژونـدي بابونـه دي دا مـه وژنـــه!!دوی د دې خـــاورې وفـــادار بچـــوړي دي دوی خپـــل هیـــواد پلـــورلی نـــه دی لایـــې د دښـــمن دتوپونو،ټانګونواوبمونو اورونه دهیواد له ټټرسره یوځای له سینې ورک شوي نه دي دامه وژنه!!دا زمـا اوسـتا د مور(هیواد)خواږه اوننګیالي زامن دي د دوی په ورکولوېې خپله مور مه غمجنه کوه ځکه چې د دې خـاورې ویاړلي زامن دي چې خپلې مورته یې دحیاء اوپت ټیکری ورپه سرکړی دی نو؛ دا مه وژنه!!دا مه وژنه!! دوی د دې مجاهد اوسرلوړي ملت دیونیم ملیون شـهیدانو،کونډو،ورارو،بورو اویتیمـانو اصـلي وارثـان دي دوی تـه کونـډې ناسـتې دي دوی تـه یتیمـانوخولې وازې نیـولې دي او د شـهیدانوآرمانونه ورپـورې تړلـي دي دا مـه وژنه!!دوی څه ګناه کړې ؟تر دوی ستاګناه ستره ده ځکه نن که په دوی پورې هرڅـه ویـل کېـږي سـتا ګنـاه پکې په سلوکې اته نوي ده چې دخپل سرۍ اوخپل چارۍ زمینه ورته ستا د بې لارئ له امله برابـره شـوې ده که ته په سمه وې نو؛ دوی به ضرورستا پلوونه تعقیب کړي ؤ، اوکـه څنګـه؟ رمـه چـې دچـا فصـل تـه زیـان ورسوي ګناه یې د رمې وي که د شپانه؟ نو؛ واوره!!دا د دې ملت متې او بازوګـان دي دوی خپلـه خـاوره پـه خپلو وینوخړوبولای شي نو؛ تردې ستره قرباني به بله چېرته وي چې وریې نه کړې؟دا مه وژنه!!ښه د قدرت په نیشه کې دلیونوکانې مه کوه په زورکلي نه کیږي دا څوارلس کاله جګړه له همدې املـه وه چـې سـتاپه څیـر بدمستانو دخپلوخلکود ارادو په خلاف په زورکلي کول غوښتل نو....... دامه وژنه!!

۱۳۷۴/۴/۲۵ لمریز- دپکتیا ولایت مرکز ګردیز

**ناکامي (دجنت هیله)**

د ژوندانه له ناکامیوڅخه مه مایوسه کیږئ ،هغه ژوندبریالی ژوند نـه دی چـې یـوازې کـامراني لـري ، هغـه خوشحالي سړی نه خوشحالوي چې د درد اوخوږو په قیمت نه وي اخیسـتل شـوې، د ورځـې رڼـا د شـپې لـه تیاروڅخه ده اود لیدوخوند د بیلتانه په غم کې دی او د ژوندفتحه دجنګ پـه مـاتې اوشکسـتونوکې ده ، هغـه چې له خدای (ج) نه ابدي راحت غواړي هغه د یو داسـې جنـت آرزو لـري چـې هلتـه د لیـدو لپـاره سـترګو پرانستلواو د خوراک لپاره خولې بیرته کولواو د آوریدلو لپاره غوږ ایښودلو ته حاجت نه وي ترڅوچې ژونـد دی نو؛ په دې کې برکت له حرکت څخه دی اوکامل سکون عین مرګ دی .هغه چې وایي چې په دې دنیـا


(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کمی او بندوالی ولې شته نو؛ دا په حقیقت کې دنیکې پریمانۍ آواز دی قدر نه پیژني اود دې ملغلرو پوره قدر او قیمت اداءکول نه غواړي پس نو؛ باید ولیکم چې هرڅومره چې یوه خوشحالي شانداره وي هغومره هغه لارې هم سختې وي چې دحصول لپاره لنډیږی ، د ژوند ناکامي په حقیقت کې داسې کسان غواړي چې دکامیابۍ وړ وي .

**دعشـق په نابلده ښارکې( دتلیفون پرلیکه)**

د ایران د اسلامي جمهوریت په پلازمینـه تهـران کـې مـې د مسـافرت اومهـاجرت شـپې او ورځـې تیرولـې د۱۳۸۱هجري لمریز کال دلیندۍ دمیاشتې ۲۳ ورځ وه او د نمازدیګر څلور بجې کېدونکې وې چې تلیفون ته مې زنګ راغی کله چې مې غوږۍ پورته کړه اوغوښتل مې چې ورسره خبرې وکړم دتلیفون شمیره یې نابلده ښکاریدله ما ورسره خبرې پیل کړې یو نا آشنا غږ مې ترغوږ شوچې په فارسي ژبه خبرې کوي او راته وایـي زه غواړم چې له تاڅخه څو پوښتنې وکړم خو؛ ستا دپه خپله خوانۍ قسم وي چې درواغ به راته نه وایې مـاهم دا خبره ورسره ومنله اودا لاندې پوښتنې یې راڅخه پیل کړې:



(د غازي شیرخان "همراز" یو انځور د ایران اسلامي جمهوریت په پلازمینه تهران کې )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستانوم څه دی ؟ ما ځواب ورکړ چې زما نوم شیرخان دی اوستاسو نوم څه شی دی؟ هغې راته وویل زما نـوم نازنین دی ، بیایې رانه وپوښتل څوکاله عمرلرې (څوکلن یې)؟ ما ځواب ورکړ چې زه د۳۲ کلونـویم اوبیـایې راځخه وپوښتل قد او وزن د څومره دی؟ بیـا مـې ځـواب ورکـړ چـې زمـا قـد ۱۷۵سـانتی متـره او وزن مـې ۸۲کېلوګرامه دی ، بیایې رانه وپوښتل چې ستا دنده څه شی ده؟ بیا مې ځواب ورکړچې زما دنده حماسـې او غورځنګونه دی . بیا یې راته وویل چې زه غواړم چې تا له نـږدې څخـه ووینـم پـه کومـه کوڅـه ،پـارک یـا څلورلارې کې به د ووینم خو؛ ځای ته وټاکه چې زه هغلته درشم په دی حال کې ما ورته وویل سمه ده چې ستا خوښه ده زه به ځای وټاکم د محشرمیدان ته بیا راشه چې سره ووینو، هغې وویل چې زه په دغه ځای کې بلده نه یم چې دمحشرمیدان به چېرته وي خو خیر زه به یې دپتې پوښتنه وکړم ،بیا یې راته وویل چې په کومه ورځ درشم؟ما ورته وویل : چې د قیامت په ورځ!! له څوشیبو وروسته یې په ژړا پیل وکړ..... او ما ورته وویل چې ته نوره مه ژاړه : زما قسـمت خوهسـې خوار دی -- چې ګل ته لاس کړم اغـزي ګوتو له راځینه.

**د مار وژل**

سهار وختي د خپلو مجاهدینو ورونو سره یو ځای د دښمن پر وړاندې دکمین لپاره روان شـوم ، کمـین تـه ورسیدو ، دښمن ته په یولړ آوښتو تلفاتو سره په بریالیتوب سره د خپل سنګر(پوستې) په لوري را روان شـوو ، ټکنده غرمه وه ، دغه ځای د لوګر ولایت دتنګـي واغجـان سـیمې تـه څیرمـه موقعیـت درلـود ، دوه ملګـري مجاهدین مو د همدې سنګر(پوستې) د ساتلو لپاره پرېښي وو ، خپل سنګر ته په داسې حال را وګرځېدو چې ډیر ستړي وو ،ګورم چې همدا دوه ملګري چې د سنګر د ساتلو لپاره مو موظف کړي وو لور پـه لـور منـډې وهي ، زه ورخطا شوم داسې مې و انګیره چې دښمن په دې ځای کې ځـای پرځـای شـوی دی ، پـروت مـې وکړ ، دکلاشینکوف کفاك مې و واهه اومرمۍ مې په بیړه ور تیره کړه ، ورچیغه مـې کـړې څـه خبـره ده ، ویې ویل : مار دی ، بیرته راپورته شوم، دمار په لور مې ور منډه کړې ، نسبتاً لوی مار ؤ ، دمار په سر مې پـل کیښود ، ترلکی مې راکش کړ ،سرېې پرې شو او سم لاسي مې د مار سر راپورته کړ، له ډیرې غوصې څخـه مې خولې ته وا چاوه په خوله کې مې میده میده کړ او تیر مې کړ ملګري مې هک پک حیران ودریـدل تـر یو لنډ سکوت وروسته مې ورته وویل : مار هم دښمن دی مونږ اوتاسو چـې مـار نـه شـو کـابوکولای اوخپـل سنګرنه شو ترې ساتلی نو؛ د روسانو سره به مو څه حال وي یو ملګری مې په خندا شو او زیاتـه یـې کـړه تـه خو؛ مار خورهم یې !!

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دآزادۍ سره مینه**

د زابل ولایت په شاجوی ولسوالی کې له موټر ښکته شوم دپاخه سړک نه لږ لیرې د اوبو یوه ځاه(برمې) ته ولاړم خورا یخې اوبه یې درلودې ومې څښې دڅاه (برمې) پر برنډه د اوبو سیل ته کیناستم ،په دې حالل کې پرپاخه سړک امریکایان تیریدل ، ټانګونه یې ودرول ،ژباړن او دوه تنه امریکایان ترې راښکته شول او زما پـه لور را روان شول، بیرته ودریدل ، ترجمان ماته لاس وښوراوه ، غبرېې را وکړ او ویـې ویـل : ای ځوانـه! دلتـه راشه ، ما ور غبږ کړ تاسې دلته راشئ ، بیا یې ډیر په بیړه اصرار وکړ چې دلته راشه ، مـا بیـا ورتـه وویـل چـې تاسې دلته راشئ ، دهمدې خبرې سره زما په لور را روان شول ، نږدې راغلل او ترجمان یې راته وویل لیـونۍ یې ما وویل : نه ! ترجمان: چې لیونۍ نه یې نو؛ ولې نه راځې را کړه دهویت تذکره یا کـارت چـې ود پیژنـو چې ته څوک او دکوم ځای یې ، ما وویل: تاسو مـو دهویـت کارتونـه راکـړئ چـې زه مـو وپیـژنم ، زه خـو دهمدې خاورې یم تاسو څوک او له کوم ځای څخه راغلي یاست ؟ امریکایان په غوصه شول او ترجمان تـه یې وویل چې ورته ووایه چې له دې ځایه لاړ شي دا سړی ډیرخطرناک دی او بیا یې زیاته کړه چې افغانـان ډیر مغرور خلک دي ، وروسته مې خپله دهویت تذکره ترجمان ته ور وښوده او بیرته رانه روان شول.

۱۳۸۳/۳/۲۳ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورم فصل

---

## د غازي شیرخان"همراز" دعوت

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ټولنېز ژوندانه کې د مسلمانانوحقوقوته درناوی**

غازي شيرخان يوله هغه شخصيتونوڅخه ؤچې په خپل ټولنېز ژوندانه کې يې د نورومسلمانانوحقوقوته ډير درناوی درلود اوتل يې په دې ټينګارکاوه چې مسلمانان بايد هغه حقوقوته ژمن و اوسي کوم چې د بشريت سترلارښودحضرت محمد(ص) اسلامي امت ته په يوه حديث شريف کې داسې ورښودلي دي :(عن ابی هريرة رضي الله عنه ان رسول الله(ص) قال:حق المسلم علی المسلم ست قيل ما هن يا رسول الله قال اذا لقيته فسلم عليه و اذا دعاک فاجبه و اذا استصحک فانصح له و اذا عطس فحمدالله فشمته و اذا مرض فعده واذا مات فاتبعه.) رواه مسلم

ژباړه : له حضرت ابوهريرة (رض)څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي چې : د يوه مسلمان پربل مسلمان شپږحقونه دي ، چا وويل : هغه کوم دي؟ ای د الله رسوله! ويې فرمايل : کله چې ورسره مخ شوې سلام پرې واچوه،کله يې چې بلنه درکړه ويې منه،کله يې چې نصيحت درڅخه وغوښته نصيحت ورته وکړه ،کله يې چې پرنجی وکړ او الحمدلله يې وويل : نو؛ څواب يې ورکړه ([3]) کله چې ناروغه شو پوښتنه يې وکړه اوکله چې مړشو نو؛ جنازه کې يې ګډون وکړه .

غازي شيرخان په سلام اچولوکې سستي نه کوله ده به د رسول اکرم (ص) دپورتني حديث شريف په مصداق سره داسې ويل چې سلام اچول دمسلمانانوترمنځ دمينی ،محبت او وروروليۍ د پياوړتيا لامل ګرځي اوتل به يې په خپلوخبروکې دا ويل چې ځينې کلمات اواصطلاحات شته چې د سلام پرځای زمونږپه ټولنه کې يې رواج موندلی دی لکه هيلو– Helo ، سهارموپه خير، بلی او داسې نور....) چې په هيڅ صورت سره د سلام اچولوځای نه شي نيولی او نه دومره اجرلري لکه د سلام اچول . همدا راز نورحقوق چې مخکې يې په حديث شريف کې يادونه وشوه د هغې له جملي څخه د ناروغ په پوښتنه کولو سره غازي شيرخان ډير ټينګارکولو دا ځکه چې هغه په عملي توګه سره د هغه ګټې ليدلې وې هغه داسې چې هغه په خپل ژوندانه کې ډيرسختې ناروغی ليدلې وې لکه په بيلابيلوسنګرونوکې زخمی توب د زړه ناروغي ، دپښې دګردي ماتيدنه .... خو؛ ده به ويل چې زما د ناروغی په اړه به چې چا پوښتنه وکړه ماته به يو روحي تسکين او آرامتيا پيدا شوله او داسې به ښکاريدله چې زه په دغه دردکې يوازې نه يم نور مسلمانان هم راسره شريک دي سربيره پردی ده په خپل ژوندانه کې د نورومسلمانانو دجنازې د لمانځه په مراسموکې تر وسه پورې ګډون کولو په خپله سيمه کې به چې هرځای دجنازې په اړه خبرشو سم دلاسه به يې هلته تشريف وړلو پرته له دې چې هلته به غوښتل شوی ؤ يانه دا ځکه چې انسان يوټولنېزمخلوق دی په يوازې توګه نشي کولای چې

---

([3])- کله چې څوک پرنجی (عطسه) وکړي ، هغه به (الحمدلله) وايي او چاچې داکلمه واورېده هغه به په ځواب کې ورته (يرحمک الله) وايي او بيا به پرنجي کوونکی شخص ورته (يهديکم الله ويصلح بلکم) وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې اوغمونه تحمل کړي او همدا راز نشي کولای چې په یوازې توګه له ډېرې خوشحالي څخه خوند واخلي په همدې اساس دغازي شیرخان دجنازې د لمانځه په مراسموکې ګڼ شمیرمسلمانانو برخه اخیستې وه .



(په انځور کې له کیڼ لوري څلورم تن غازي شیرخان "همراز" د ستر مبارز او ویاړلي مجاهد،حماسي شاعر او لیکوال اروابناد الحاج قاضي محمدکریم حیدري دجنازې دلمانځه د مراسمو د اداء په حال کې. موقعیت : دسیدآباد ولسوالي د شنیزدره د میرخان خیلو کلی.)

### دشهادت په تمه ژوندکول

غازي شیرخان د اسلام په دښمنانوباندې په هرجنګ اویرغل کې په دې نیت برخه اخیستله چې یابه شهیدشم اود دنیا اوآخرت یوستر ویاړ به مې په برخه شي اویا به غازي شم په خپل هیوادکې به پاتې عمر په ډېره هسکه غاړه سره تیروم اویابه اسیرشم په دنیاکې دکړوګناهونوڅخه به مې الله (ج) توبه قبوله کړي او دګناهونو پیټی به مې سپک شي خو؛تر ټولو نه دا غوره ګڼم چې د اسلام په لاره کې په خپل سراو مال سره جهاد اومبارزه وکړم اوپه دې لاره کې شهید شم ، خو؛د ده دغه سپیڅلی اوسترآرمان ترسره نه شوکه د ده دغه آرمان پورنه نشوخو؛ په دغه نیت یې ټول عمرتیرکړ چې د اسلام د دښمنانوسره په جنګ کې شهیدشم حتی ترديې چې د مرګ تر وروستی سلګی پورې یې دغه نیت درلود له بده مرغه چې ده په دغه وخت کې د زړه ناروغي درلوده اونه یې شوی کولای چې دجهادسنګرته و درومې سره له دې چې زمونږ په هیوادکې صلیبي ښکېلاک ګر ځواکونه او فوځونه موجود ؤ، یوه ورځ یې له ماسره خبرې کولې په خپلوخبروکې یې و ژړل او راته ویې ویل چې ټول عمرمې په ګرموسنګرونو او مورچلونوکې تیرکړخو؛ شهید نه شوم سره له دې چې د تلتکې (بړستنې) له مرګ نه مې ښه نه راځي، اوس نو؛څه وکړم بله چاره نه لرم لکه چې دتلتکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرګ شوم او بیایې وویل که دومره هم په ځان باور پیداکړم چې تر دروازې وتلای شم بیا به هم له دې کفارو سره وجنګیږم ترهغه پورې چې شهیدشم اوخپلې خبرې یې په داسې حال کې پای ته ورسولې چې سترګې یې له ژړا سرې شوې په دې ترڅ کې ما ورته وویل چې ته مه ژاړه اومه خفه کېږه که ته په خپل کورکې مړهم شې تاته به لوی خدای(ج) د شهید درجې درکړي دا ځکه چې رسول اکرم (ص) په یوه حدیث شریف کې داسې فرمایي :**عن سهل بن حنیف(رض)،ان النبی (ص) قال : (من سال الله تعالی الشهاده بصدق بلغه الله منازل الشهداء،وان مات علی فراشه)** رواه مسلم .

ژباړه : له سهل بن حنیف(رض) څخه روایت دی :چې رسول الله (ص) فرمایلی دي :څوک چې په ریښتیاسره له الله تعالی څخه دشهادت غوښتنه وکړي نو؛ الله تعالی به دی د شهیدانومقام ته ورسوي که څه هم هغه په خپل بسترکې مړشي .

وروسته یې تسکېن وشو او ژړا یې بس کړه او راته ویې وویل چې مونږ خو خپل رسالت اداءکړ نورستاسې کار دی چې د اسلام له دښمنانوسره څه ډول معامله کوئ خو؛په یاد ولرئ چې له اسلام او اسلامي نظام پرته بل هیڅ نظام په دې هیوادکې د منلو وړ نه دی .

**د غازي شیرخان"همراز"۱۵ ویناوې**

۱. د نړۍ یو شمیر انسانان د بعضو څرګندو حقیقتونو څخه منکر دي ولې ټول په یو حقیقت باور او عقیده لري؛ چه هغه مرګ دی، نو بیا ولې د مرګ څخه ویره ولرو پداسې حال کې چه توښه له ځان سره ولرو.
۲. که زمونږ د ټولنې له ډیرو وګړوڅخه د هغه د مالـ یا ځینې دنیوي وسایلوپه اړه پوښتنه یا معلومات وغواړې سم دلاسه تاسوته د هغه د ښګینو،صفاتواو بدیو په باره کې زیاتې خبرې کولی شي مګرکه چېرې د اسلام د مبین دین په اړه ترې وپوښتې درته وبه وایې چې زه معلومات نه لرم یا وایي چې ماپه دې باره کې آماده ګي نه ده نیولې یعنې دټولنې ډیرخلک دنیا د لاس ته راوړلو لپاره ډیرې هلې ځلې کوي او د آخرت د ابدي ژوندانه دګټلو اولاس ته راوړلو لپاره هیڅ پام نه لري خو هغه وخت به یې پام شي چې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي .
۳. له هغه خلکو څخه ډیره ویره په کار ده چې د یرغلګرو پر وړاندې چوپه خوله پاتې کیږي .
٤. جهاد له نبوي محراب څخه د ایمان ،تورې او ډال په زیار پیل شوخو د هغه سرته رسول د باایمانه اوبا احساسه مسلمان اولس په غاړه ایښودل شوی دی .
۵. اسلام دتعادل اونظم نظام دی په اسلامي ټولنه اوکورنیوکې بې ځایه لګښتونه داسلامي اخوت دمنځه وړلوسبب ګرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. هغه څوک چې په جنګ ، جهاد او مبارزه کې یومشـخص هـدف ونـه لـري د سـنګرد سـاتلو اوفتحـې د راوړلوجرئت نه لري .

٧. عزت یوازې په اسلام کې دی له اسلام نه پرته بل هیڅ څیزنشي کولای چې انسان ته پیرزوینې وریه برخه کړي .

٨. که غـواړئ چې خپل روح ، ځـان ، مال ، اولاد ، ناموس، دوستان، ټولنه او بالاخره چـاپیریال مـو تـل پـه امن او آرام وي نو؛ هیڅکله د خپل مسلمان وروږخخه د انتقام اخیستلو په فکر کې مه اوسئ بلکـه هغـوی ته د الله (جل جلاله ) څخه د هدایت او لارښوونې غوښتنه وکړئ او هغه ته د اصـلاح او جـوړونې لارې چـارې ولټوئ .

٩. خپل راز چاته مه وایه ،کله چې ته پخپله ونشي کولای چې هغه وساتې ،د بل چا څخـه څنګـه تمـه لـری چې هغه به یې تاته وساتي .

١٠. په مبارزه کې ماتې (شکست )خوړل مهم نه دي ،خو ؛ د روح ماتې ډیره مهمه ده ،څوک چې له خـدای (جل جلاله) په ریښتینی توګه سره سمه اړیکه ولري شکست نه لري .

١١. زمونږ د لارې دښمنان یو رنګ دي خو ای کاش چې زمونږ ملګری او دوستان هم داسې وای .

١٢. نیکمرغه سړی هغه دی چې ډیر زړونه لاس ته راوړي .

١٣. دمولودشریف په اړه دغازي شیرخان ځانګړی ویناوې : د رحیم خدای(جل جلاله)شکر اداءکوم چې ماته یې یوځل بیا دا توانایي راپه برخه کړه چې د مظلوم امت او د اسلام د مبین دین پـه ګنـاه ځـورول شـوی ولس ته د میلاد نبي(صلی الله علیه وسلم) په هکله څوخبرې وړاندې کړم :

- دا یو حقیقت دی چې هیڅ څوک تر هغې پورې د ایمان دعوا نشي کولای تر څوچې د الله(جل جلاله) او د رسول الله (ص) احکاموته یې د اطاعت غاړه نه وي ایښې او همدا راز مسلمان هغه دی چې اسـلام یې د ژوند د قانون په حیث منلی او عملي کړی وي دا ځکـه چې اسـلام هغـه دیـن دی چې الله(جـل جلاله)د خپلو بندګانو لپاره غوره او خـوښ کـړی دی، همدغـه غـوره دیـن الله تعـالی د خپـل افضـل او وروستي پیغمبر حضرت محمد (ص) په واسطه مونږ ته را لیږلی دی .
- حضرت محمد(ص) د الله تعالی دا دین په پوره اخلاص او امانت دارۍ سره لومړی پخپـل ځـان عملـي کړی او بیایې امت ته رسولی دی .
- د رسول الله(ص) مبارك سیرت یعنې د هغه اقوال، افعـل او اخـلاق د اسـلام د مقـدس دیـن کاملـه او عملي نمونه ده .
- که څوك وغواړي رښتینی مسلمان شي باید د خپل ژوند په هره برخه او هـره معاملـه کـې د رسـول الله (ص) اطاعت او پیروي وکړي .الله تعالی په خپل کتاب قرانکریم کې دتغابن دسورت پـه ١٢ آیـت کـې داسـ‍ــــــې فرمـــــــایې : ☎✁❑⇖➔⓿✐⊂❐📖◆❒ ⅄✎✍✁ ☎✁❑⇖➔⓿✐⊂❐📖◆❒
✍✁☺✵☼✎✉⬧▫ ⇔⚐🡐☞⬂⑩⅄◉◆❑⬧✍ ♍✎✉⬧▫ 🗐 ⧫✌❑🡐⬥▪❷◉✍✁

(c) ketabton.com: The Digital Library



←×✓☎⌨←☺⇘☏☜✂ →⇙🕒■💾♦⌨⇘☏☜✂ ☜◆☪☎☏❑←☞◆❻ 📄❼■✍♦⇖
. ⇧⇨⌘⇗

ژباړه : (اوتاسود الله ج او د هغه د پیغمبراطاعت وکړئ ، نوکه چېرې تاسوترې وګرځېدئ ، نو زمونږ دپیغمبردا وظیفه ده چې ښکاره پیغام به رسوي) .ځکـه نـو د الله او د هغـه د رسـول اطاعـت فـرض دی اومسلمانان باید د الله تعالی دا حکم په بشپړه توګه عملي کړي .

خو؛ دا باید له یاده ونه باسو چه د دی الهي حکم پوره کول هغه وخت ممکن دي چې مسلمانان د رسـول الله (ص) په مبارک سیرت خبر او پدی هکله پوره معلومات او علم ولري ځکه چې حضـرت محمـد(ص) د الله (جل جلاله) استازی(رسول) او داسې بنده ؤ چې د اسلام له نیغې لارې یې د یوه ویښته په اندازه هم انحـراف ندی کړی .

۱٤. حق پر باطل حتما بریالی کیږي خو؛ مونږ ته پکار ده چې باید خپل مسؤلیت پکـې اداء کـړو.(۱۳۷۰/۷/۲۵ لمریز)

۱٥. زمونږ په هیوادکې د پردیولاس وهنې په راتلـوونکې کـې لـویې سـتونزی رامـنځ تـه کـولای شـي د هغـه مخنیوی د هرافغان ایماني او وجداني مسؤلیت دی. (۱۳۷۲/۳/۲۴لمریز)

**قرآن اصلاً د چا لپاره هدایت دی؟**

اروابناد غازي شیرخان همراز دخپلو دعوتي لیکنو په لړ کې دا لیکنه په خپله کتابچـه کـې لیکلې وه چې دادی کټ مټ یې رانقلوم : دوه تنه ناروغـان پـه یـوه نـاروغۍ آختـه دي او دهمـدې نـاروغۍ دعـلاج لپـاره یومعالج اوطبیب هم شته دی خو د دغه دواړو ناروغانو له جملې څخه یوناروغ د هغـه طبیـب پـه طبابـت بـاور لري او د خپلې ناروغۍ معالجه هم ورباندې کوې اود هغه طبیب په نسخه او لارښونه داسې عمل کـوي کـوم چې طبیب ورته ښودنه کړې ده ، او هغه بل ناروغ نه دطبیب په طبابت باورلري اونه هم علاج ورباندې کـوي او نه یوازې داچې دنسخې په صحت شک لري بلکه بیخي یې له صحت څخه منکردی اوپه نسخه کې لیکـل شوی درمل نه استعمالوي نو؛ جوته ده چې لومړی ناروغ به د وخت په تیریـدو او د درمـل پـه استعمالولوسـره ورغیږي او دوهم ناروغ به ورځ په ورځ زیانمن کیږی، اوس کـه دغـه نـاروغ ووایـي چـې هغـه طبیـب د دې ناروغۍ معالج نه دی اویا د هغه نسخه سمه نه ده هیڅوک به ورسره دا خبره ونه مني او نه د داسې ناروغ دغـه خبره د هغه طبیب په طبابت اوحقیقت څه تاثیرلري ځکه چې اول خو د هغه طبیب دعلاج په وجه عملاً لیـدل شوی چې بی شمیره خلك ورسره روغ شوي او دوهـم دا چـې دغـه نـاروغ اصـلا د طبیـب لـه طبابـت څخـه انکارکړی او د هغه نسخې ته یې دشك اوتردید په سترګه کتلي دي او د هغه سره سم یـې دارو او درمـل نـه دی استعمال کړی نوبناً د داسې ناروغ خبره سند نه ده دا خبره په هغه وخت کې د منلو وړ وه چـې هغـه اول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغ دطبیب طبابت منلی وی اوبیاېي دهغه له نسخې سره سم درمل استعمال کړی وی اوجوړشوی نه وی اویا هغه ناروغان هم نه رغیدلی چې په هغه طبیب يې علاج کړی دی .

البته دا خود هغودوو ناروغانومثال ؤ چې یو د طبیب په طبابت باورهم لري اونسخه يې هم په سمه توګه استعمالوي او دوهم يې نه طبابت مني اونه يې نسخه عملي کوی په دې صورت کې به یو روغتیا اوصحت مومي او د بل صحي وضعیت په ورځ په ورځ خرابیږي ،خو یو دریم ناروغ داسې دی چې دطبیب په طبابت اوتخصص خو پوخ باور اویقین لري لیکن د درملو د استعمال او خوړلوپه وخت کې پرهیز نه کوي اویا د نسخې درمل سم نه استعمالوي ښکاره خبره دا ده چې د داسې ناروغ لپاره هم د هغه طبیب د نسخې درمل څه ګټه نه لري .اوس که څېرې دغه ناروغ چې پرهیز نه کوي داسې ووایي چې ما خو د طبیب په طبابت باور هم درلود اوپه نسخه کې لیکل شوي دارو مې هم استعمال کړل د هغه سره سره هم روغ نه شوم د داسې ناروغ خبره هم د منلو وړنه ده ځکه چې یاخوېې پرهیز نه دی کړی اویاېې دارو او درمل سم نه دي استعمال کړي یعنې دطبیب دلارښوونو سره سم يې عمل نه دی کړی عیناً د قرآنکریم هم داسې مثال دی چې ګټه يې په حقیقت کې هرچاته رسیږي او هدایت يې تریوې ځانګړې طبقې پورې محدود نه دی بلکه عمومي صبغه لري لیکن مقصود پړوا ته هغه څوک پرې لاره موندلی شي چې په حقانیت باندې يې پوخ باورکړی وي اوله هدایاتوسره سم يې عمل کړی وي نو؛ معلومه شوه چې قرآنکریم اصلاً دمتقیانولپاره هدایت دی .

**ځانګړې دعــاء !**

یاالله جل جلاله !

دطیبې کلیمې د ویلوتوفیق راپه نصیب کړې .

دطیبې کلیمې یقین موپه زړه کې راولې .

په لمانځه کې خشوع اوخضوع راپه نصیب کړې .

قرآنکریم په تجوید اوترتیل سره را زده کړې .

ستا ذکر موپه اخلاص سره په زړه جاري کړې .

زمونږ بدن ته عاجزي اوخشوع راپه نصیب کړې .

ښه خوی اوښه خصلت راته په نصیب کړې .

یاالله جل جلاله !

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان بنديان له بندڅخه آزاد کړې .

مسلمانانو ناروغانو ته شفاء ور کړې .

مسلمانان قرضداران له قرض څخه خلاص کړې .

مسلمانان مسافرصحی اوسلامت خپلوکورونوته راستانه کړې .

د مسلمانانوشرعي اومشروع غوښتني اوحاجتونه پوره کړې .

دواقعي مجاهدینوسره مرسته اونصرت کړې .

دواقعي مجاهدینو د سرونو،مالونو اوکورونو ساتنه کړې .

هغه څوک چې جهاد نه کوي هغه ته دجهاد همت وربه برخه کړې .

دا کفار او یهود چې زمونږخاورې، زمونږ دین، زمونږاسلام، زمونږ قرآن، زمونږ پیغمبر (ص)، زمونږ ناموس ته په سپک نظرګوري د هغه سره دجهاد في سبیل لله توفیق راکړې.

ځانکندن مو راته آسانه کړې.

قبرونه مو منور او روښانه وګرځوې.

یاالله جل جلاله !

عملنامې موپه ښي لاس سره راکړې.

په دنیا اوآخرت کې مو بریالیتوب په نصیب کړې.

بې حسابه بې کتابه موجنت ته داخل کړې.

یاالله (ج) د جهنم د اور نه مو وساتې.

ستا دیدار او د نبي (ص) ملاقات موبه نصیب کړې.

جنت الفردوس موبه نصیب کړې.

داسې راضې شې چې بیا هیڅکله نا راضه نه شې.

زمونږتش په نامه مسلمانانوسره روغه وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ستا د قهر اوغصې څخه مو وساتې.

زمونږصغیره اوکبیره ګناهونه معاف کړې .

زمونږ سهواً اوقصداً مخکني او وروستني ګناهونه معاف کړې.

یاالله جل جلاله !

زمونږ بې وزله مسلمانانوته په خپل ټاټوبي کې د سرلوړئ اوخوشحالۍ ژوند ور په برخه کړې.

یاالله جل جلاله !

مونږستا دربار ته لاسونه پورته کړي دي چې په ټوله نړۍ کې د اسلام په بریالیتوب زمونږسترګې یخې او روښانه کړې او د اسلام سپیڅلی دین په ټوله نړۍ کې خپورکړې .

**آمین یارب العالمین**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پنځم فصل

---

## دغازي شیرخان"همراز"شعــرونه

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غازي شيرخان شعرونه(٤) مې د هغه د شعرونو له کتابچو ، يادښتونو او کاغذي پاڼو څخه چې په بيلابيلو وختونوکې يې  په خپل قلم سره ليکلو ؤ را غونډ کړل دا دی ستاسو درنو لوستونکو حضور ته يې وړاندې کوم هيله ده چې ادبي تنده مو پرې ماته شي.

**الهي !!**

الهي! ستا د رحمـــت په انتظـــاريومونږټول عـــمر

الهې!تل  قربانيوته تيار يو مونږ ټول عمر

الهې! بی وزلی کې دصديق په شان همـــــت راکړه

الهي!په حق اوعدالت کې دعمرپه شان غيرت راکړه

الهي! په حياء کې دعثمان په شان فطـــــــرت راکړه

الهي!په سنګرکې دعلی په شان جـــــــــرأت راکړه

الهي!عالمانوته عمل په علمـــــــيت غواړو

الهي! داعيانوته دعوت کې صداقت غواړو

الهي! مجاهدو ته سنګرکې مـــوفقيت غواړو

الهي!شهيدانوته فردوس غوندې جنت غواړو

الهي!سنګروکې بريالې زمونږ ځوانان کړه نور

الهي!سپين بيرغ مو اهتزاز پاس په جهان کړه نور

الهي!د دښمن له چنګه خلاص مو زندانيان کړه نور

الهي!په نړۍ باندې حاکم زمونږقــــــرآن کړه نور

الهي!مونږه ستا په دين باندې پوهان وګرځوه

الهي!مونږه مجاهد او هم داعـــــــيان وګرځوه

---

(٤)- ديادولو وړه ده چې د ( وردګ پيژندنه) دکتاب ليکوال ښاغلي ګل آغا احمدي وردك غازي شيرخان د سيدآباد ولسوالۍ د ليکوالانو اوشاعرانو په نوملړکې ښودلی دی. [منبع: وردګ پيژندنه، ليکوال ګل آغا احمدي وردك دچاپ کال ١٣٩٧ ل]

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي! قلم دټوک ټوک ملت زبان وګرځوه

الهي! ستاپه محبت موتل ســـــوزان وګرځوه

الهي!د فسق فجور او بدو دښمنـــــان یومونږه

الهي! ستا لورته در روان مهاجـــــران یومونږه

الهي! مونږ نابللي میلمانه ستا د دربار یو

الهي! ستا درحمت اومغفرت ته امیدوار یو

الهي! د اسلام دپاکې خاورې یې پاسدار کړه

الهيٍ! دا شیرخان (همراز) په مینه ترینه ځارکړه

***

**انقلابي پروانه**

"دغیرت وینې مې جوش وهي په تن کې

هیڅ باورنشته په دوست اوپه دښمن کې"

ما خو عمر انقلاب ته نظرانه کړ

دغه شمعې ته مې ځان بیا پروانه کړ

لږ یې وسوم خو بیخي یې ستي نه کړم

خپل مولا ته یې په پلور قیمتي نه کړم

ما سینه د دښمنانو وار ته سپر کړه

مایې هر ګذار ته ژر بدله ورکړه

ما (همراز) په مورچلونو بازۍ وکړې

په کمون  او بل اغیار مې زارۍ وکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


***

**هلـته دلـته**

د ملحـــد د مرګ خبرېم که وي هلته که وي دلته

د مسلم د لاس خنجريم که وي هلته که وي دلته

دمظلوم حساب ترې غواړم که په نن که په سباوی

دمومن دحق ياوريم که وي هلته که وي دلته

د الحاد ډلو ټپلوته اعـــــــــلان کوم په څغرده

د محلـــدقاتل د سريم که وي هلته که وي دلته

چې دچاپه غيرکې اوسي دهغه لمن به سوزی

زه په حقـــــه زورويم که وي هلته که وي دلته

چې حامي دکمونيست وي دشخصي دوستۍ لپاره

دهغه دزړه پرهـــــــــريم که وي هلته که وي دلته

که په هرلباس کې پټ وی عاقبت راځي په ګوتو

ورپسې په سم اوغريم که وي هلته که وي دلته

چې تطبيق دقرآن غواړی هم په ځان هم په جهان کې

زه يې ورور او برادر يم که وي هلته که وي دلته

د الله ددين لپاره چې ونه سپمـــــــــــوي سرخپل

د هغوزلمو نوکـــــــــريم که وي هلته که وي دلته

دخدای ج مينه په دنياکې تردنياده راته غوره

بې پروا له سيم او زريم که وي هلته که وي دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مې سرځي که مال ځی داسلام په پاکه لاره

خوش قسمته بختوريم که وي هلته که وي دلته

نه دشرق شې نه دغرب شې قرآني قانون دراشي

کلک ولاړيه دې نظريم که وي هلته که وي دلته

دجهادسنګري ورېوته په شعــــرکې داسې وايم

چې ملاترړ دسنګـــــــريم که وي هلته که وي دلته

***

**ويښ شه مسلمانه!**

پيمــــــالول داسلام غواړی شيطــــــانان يوشوي

دشرق اوغرب سترښکېلاکګراستعمارچيان يوشوي

دتزويردام يې غوړولی ددوستۍ په نامه

په حقيقت کې  دنړۍ ټول خــاينان يوشوي

دسروليوانوپه څيرراغلل داسلام حريم ته

خفه کول داسلام غواړی مشرکان يوشوي

دځانځانی زړي  يې وکــــــــرل په تشه بيه

مقدساتوته مرواړه مـــــــــــرتدان يوشوي

غواړي صليب تنده کړي ماته د زم زم په اوبو

دغه مقصدته د دنياټول مغـــــروران يوشوي

مسلمه ويښ شه چې ترستوني تيرول دغواړي

دغه هدف ته ددنياټول دښمنان يوشوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوښي زما دجبرائیل په بال ترعرشه رسي

که یوځل واروم د دنیا مسلمانان یوشوي

***

**دا وطن د مجاهد دی**

دابې وخته اداګانې

ماته مه کوه نادانې

زه دوخت غموځپلی

یم تودوسیلووهلی

لادردونه مې دی زړه کې

دبیلتون اوریم سیځلی

دسروشونډوخندانشته

دوحشت سلګونیولی

په ګلشن مې خزان ګډدی

په سپیروګردولړلی

چازمری ددنګوغرونو

زولنوکې دی تړلی

خوداواوری غلیمانو

په کړولاروروانو

داوطن دمجاهد دی

چاپه زورنه دی خوړلی

ککرۍ د په کې ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادښمن دی ځغلولی

یوښکاره مثال یې دادی

برجنیف ،اندروفوف ،چرننکوف

ګورباچوف مې تمبولی

***

**نیمګړی آرمانونه**

خدایږوځواني په ژړیدوتیره شوه

دهجرشپه مې په سلګــوتیره شوه

دخوشحالۍ ساعت به کوم وی آشنا

دوصل شپه خوپه ګیلـــــوتیره شوه

لږخو درحم نظـــــــــــروکړه پرما

د ژوند شیبه په اوسیـــــلو تیره شوه

لکه چې تا ؤ منع کړی جـــــــــانان

رویباره ځکه په نخـــــــروتیره شوه

خـــــدایه دهجرعمـــرکم کړې زما

دا سلسله خوپه غمـــــــــوتیره شوه

په ما (هـــــمراز) یې هیڅ نظرونه کړ

په تکبر او مکبـــــــــــــزوتیره شوه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هـــوډ**

ای! زما آسه مجنونه !!

تاته وایم

زه دټینګ ترم تانګونه

ما آغوستې جنګي زغرې

دغلیم په تندي پاس ږده قـدمونه

۱۳۷۶/۱۰/۹ لمریز

***

**پـرېږده**

پرېږده چې بلیږي سوړدهیڅکله مجمرنه شي

جوړمې دترعمره دزخمي زړګي ځکــر نه شي

زړه می هدیره ده ډیریادونه پکې ایښې دي

دې غیروغمازته خودهرګزرابهـــــــــر نه شي

نه ګورم مهرم مې درازونو ربه! ځــــه وشو

سوړخودهیڅ وخت کې درقیب په ماتېر نه شي

راګ اوترانې چې دسرورپکـــــــې وانه ورمه

ټول عمرروژه ښه ده هیڅکله داختــــــر نه شي

خیږي اوسیلوسره لمبې زماله ســــــــوي زړه

ګوره دبې دردوخونه چېرې پرې لښکر نه شي

زړه چې دمین ساتلی نه شې په منګلـــوکې

نوم د بد په دغسې پی مخو د دلبر نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرک د رژیدو دآرمانوچې پکې نه لګي

دا د هجرشپه ښه ده په مونږه د اختر نه شي

خیردی که خبرې می ترخې دی څوک یې نه آوري

آه د دردمن زړه مې دی (همـــــــرازه)بی اثر نه شي

***

**غیـرتي ته !**

خاورې دپښوبه یې رانجه کړم په خپلو لیموباندې

څوک چې قرباني شي داسلام په تکلیفـــــوباندې

خاورې ننګیالي شول خوپه موږه بی ننګي زورشوه

نیسوقـــــــاتلان دشـــــهیدانوبغـــــــلــــــونوکې

دادپټي سر دی په احتیاط احتیاط قـــــــدم اخله

ورخ که اوبویوړېیاسودنشته په فکـــــــــــرونوکې

جارېې له جنـــــــډوشم چې په وینویې پت وساته

لوړېې شین بیرغ کړدنړۍ په بیرغـــــــــــــونوکې

ځارمی ترینه سرچې داسلام دتاریخ ځلـــــــی شی

ستایې یې تاریخ دنومیالیوکتـــــــــــــــارونوکې

مه خوړوه سر(همــــــرازه) وخت دحقیقت نه دی

تریخ دی حق ویل خلک نښتي په لــــــــوټونوکې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دســوی زړه آواز**

(دآشنانه ګیله )

نن خو دوعده وه دراتلورا نه غلې

زه منتظرترنیموشپــــورا نه غلې

ماوه فرش کړې درته لارپه لیمو

زماپه سترګوپه لیمـــــورا نه غلې

زه دهجران بیدیاکې ناست وم درته

لکه هوسی ته په ټــــوپورا نه غلې

و د سیزلم دبیلـــتون په لمــــــبو

زمادســــــوي زړه آرزو را نه غلې

ځومره بی رحمه اوسنګ دله یې ته

زماپه سویوآوســــــــیلورا نه غلې

څه شی به ستادرکې منظورشي زما

چې ته داوښکوپه تســــبورا نه غلې

آخردهجرانتهـــــــــابه یې ...څه ؟

ته چې په میاشتوپه کلـــورا نه غلې

دا د(همراز) وروستی ګیله وه آشنا

عـــــمرشوتیرپه اندیښنو را نه غلې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


**زمـاتصـویر**

چې مرګی راځینې ساه جـدا له تن کړي

د وجود هستي مې بیاپه سپین کفن کړي

دلحدپه پنجروکې مې مسکـــــن کړي

په هماغه توروخاورومی دفــــن کړي

بیا....

بیابه نه یم دملګــــــــروپه کتارکې

ګل به نه وینم هرګـــــزپه لاله زارکې

څه به خوندواخلم په فصل دبهارکې

زه به نه ومه د ژوند په دغه لار کې

بیا....

بیا زماتصویرته وګورئ ما یادکړئ

زماروح په یادولوسره ښـــادکړئ

زه دډیروناکمـــــــــیویویادګاریم

هم په قبرکې دمینې انتظــــــاریم

۱۳۷۳/۲/۲۰ لمریز

***

**درنه لاړم**

خدایه تنګ یم په دنیامرګ درنه غواړم

په ژړاژړاشـــــــوم ســـتړی نورنه ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


په صحراروان دغم ډک آسـويلی يم

په رمورموغمونه ځان نه شــــــمارم

دهيچاسره مې روح نه خوشـــحاليږي

لکه ځان دنجاست ورځيني نغـــــاړم

نور غمونه زه (همـــراز) زغملي نه شم

مبـــارک مـــوشه دنيـــا زه درنه لاړم

***

**د مينې هـــوډ**

داچې سترګې مې نن بياله غمه سرې دي

راپه ياددهغه تيرې خاطـــــــــرې دي

دخواږه دردسره يوشـــــــول تيريادونه

لالهانده مې چې بيازړه کې اسرې دي

ماويل ټال کې دزلفـــــــــوبه دزانګم

خبرنه وم راته جوړې غــــــــرغرې دي

څومره زه دچې رټلـــــــــی بی ګناه يم

هومره جوړې مې رقيب ته نندارې دي

(همراز) تيرنه يم له مينې په دنياکې

که په سرمی دبيلتون ښښې ارې دي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library




**ګــل ته!**

زه چې ناست وم ګله تاته مې کتلی

ماپه تاکې ديارنښې وی لـــــيدلی

چې مې ته په سترګوولیدې یاریادشو

خاطــــــرې مې دآشنارایادیــــدلی

ستا د مخ نه راته جوړشول فـــسادونه

ولولې مې دزړه بیاراپاریـــــــــدلی

دیارشونډې مې رایادې شوې خنداکې

چې دپاڼې په شمال وخــــــوځيدلی

اوس يې نښې تاکې وینم درته ګورم

مخامخ مې درته سترګې شرمـــیدلی

د(همـــراز) زړه په جفادیارموړشوی

کنې سترګې په دیدن نه مــــړیدلی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خـــدا ګواه**

زه آخته دزړه په رنځ یم لاعلاجه لادرمانه

دازل برخه می داده ګیله نه کوم له چـــانه

په بنده باندې چې راشي هرتکلیف ددنیاسخت دی

ولې سخت بل آفت نشته دظالم هجـــربلانه

دبلبل نامرادعمربس تمام په غـــم کې تیرشو

ګاه ګیله یې له خزان وي ګاه ګیله یې له باغوانه

پاچاهي په اورپسې کړئ چې خبردعشق په حال شئ

درس مې واخیستودمینې ابراهیم اوهم سلطانه

شونډې وچې سترګې سرې زړه کباب سینه خالي

عاشقي کې بل څه نشته بې له سراومال تاوانه

که هرڅوزماکوښښ دی چې دانوم دمینې پټ کړم

خوفریاد مې دزړه خیږي چې بنده یمه ناتـــــوانه

۱۳۷۵/۶/۲۲ لمریز

***

**زخمـــونه**

مه لټوه یاره نورزخمـــــــونه مې

پرېږده چې قرار شي پرهرونه مې

تاکه لېږدزړه په سترګـــــــووکتل

زړه کې به پیدا شي امـــیدونه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې درقیب سره په ځنګ ګرځې

ګوره راتازه شول تیرغمـــونه مې

تاچې دکوڅې دروازې بندې کړې

خاورې شولو خاورې  دیدنونه مې

ته که له نګارسره پخـــــــلاشولې

ورك به شي دټول عمردردونه مې

***

**لیکمــه**

داسې خو نه  ده چې زه  تل لیکمه

چې شې رایادزه بیا غــــزل لیکمه

تانه ګیلې دي نوري هیڅ هم نه دي

کله ښکاره کله په چـــــــل لیکمه

تاته به یادومــــــــــــه که هیربه ومه

زه خود نوم ورځ کې څوځل لیکمه

زما د زړه وینې چې وخـــــــــوټیږي

په هغه وینوبـــــــــــــیا یو بل لیکمه

چې مې ژوندون ټول په غموکې تیرشو

په داسې حـــــال باندې ژړل لیکمه

په هرزحمت پسې راحت مونده شي

ځکه مې زړه ته یوتــــــــسل لیکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د(همـــــراز) د وس خـــبره نه ده

په زړه مې لیک یې ځـکه تل لیکمه

***

## قلــم په ګوتوکې

ګوتی نیسم له قلـــــم نه ولې صبرګله نه کړې

ددماغ علاج مې نشته که دفترمې ټول سوزومه

زړه  خومې ډک ؤ ډک شوپاتې خوک دحال ویلونشته

دآسمـــــان سپینو ډیوو ته د زړه درد بیانومـــــــه

سل سوګنده زړه ته ورکړم چې تردې پس یې یادنه کړي

دومره یاد د لاسوا شي چې یې څومره هــــــیرومه

نه خبرشوم له وصاله نه هجران په ژوندون پوه کړم

هیڅ پوه نه شوم چې دا څه ؤ اوترڅو به یې ژړومه

محبت ســـــــــاتل په زړه کې دهغه داسې مثال دی

لکه یوه وړه کوزه کې سمندرټول ځـــــــایومه

دهجران تنده به کله په اوبودصبرمـــــــــړه شي

کنه زه به وچوشونډو دا جامـــــــــونه تشومه

د انسان طاقت د صبربس د مینې  انتـــــــها ده

زه د تا د عشقه ډک زړه په ورو ورو قرارومـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


**خبـــرې**

دسوي زړه په تمنـــــــــــــــايوځوخبرې وايم

زه دخيالونوپه ليــــــــــــــلى يوځوخبرې وايم

ټوټې ټوټې کچکول دزړه کې لړه مـــــينه آشنا

چېرته که خوب مې شي رښتيايوځوخبرې وايم

چېرته که ستادکوڅې سپي تيکې تيکې يې نه کړې

زړګی مې پاتې شوتنهــــــــــايوځوخبرې وايم

چې نن مې سوال مـــــاليارنه وکړوديوګل لپاره

خاورې يې راوړې دصحـــــرايوځوخبرې وايم

هسې ســـــــــــبا بيګاه  بهدم ته دراتلومه کوه

ستا په وعدوکې شــــوم بوډا يوځوخبرې وايم

***

**بوله**

راغلی په خـــــــــندايم په ژړامې مه ليږه

په تمه دوفـــــــــــايم په جفامې مه ليږه

قسم دی ستاپه خپل حسن وجمال وي چې په خلاشه

سوالونه مې قبول کړه بينوامې مه ليږه

مانه دزړه وړی نازوليوخوږوســــترګو

زه ستايم ته زماشه بله خوامې مه ليږه

دسپينې خولې په تمه دې پرينښی مــــــا روزګاردی

آرمانه ځينې ډک زړه له دنيامې مه ليږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حال مې شفقت اوترحم یوه زره وکړه

دغیروغمازانوپه وینـــــــــامې مه لیږه

وعدې ددوصال راسره ډیرې ډیرې کړی

یوه ټینګه وعده وکړه یاره بیامې مه لیږه

مینه طوفاني شوه خوب خنداشوه رانه پاتې

سوداکړه دزړه قطع په ســــودامې مه لیږه

دمینې په آرزودی منت بارزه دهرچاشوم

احســـــان اومنتوته دبل چـــــامې مه لیږه

په مینه مینه ګوره زیاتې قهر،منت پریږده

له غمه لیونی سرپه صحـــــــرامې مه لیږه

۱۳۷۳/۱/۲۹ لمریز

***

**مـــزه کوي**

زماسره ظلمونه دجـــــــــانان مزه کوي

یودردچې زړه له راشې نوخفګان مزه کوي

یوازې مزه نه کړي په قــــربت کې دآشنا

په منځ کې کله کله هم هجـــران مزه کوي

په هجرپسې وروسته بیا مزه وي د وصال

سوکړه چې په ملک راشي نوباران مزه کوي

هجوم د رقـــیبانوګرد چاپیره څه پکار دی

یوازې په خلوت کې دوه یـــاران مزه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


***

تاته چې ماوکتل په چـــل سره

ځکه خومین شولم یوځل سره

اوس دخوشحالۍ سره مې کارنشته

ګرځم دغمونودغـــــــوبل سره

زه دچې په مینــــــه کې ژړیږمه

ته اوس خندامـــه کوه دبل سره

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلوریزې

***

نن مې بیا د غلامانو مکر ولید
په وجود کې مې په جوش راځي بیا وینه
زه یې مخې ته وردانګم په سره اورکې
کوندې ماته په سنګر شي زما مینه

***

زما خــــوښه صادقي ده په دنیا کې
هیڅ فایده نشته له یار سره جفا کې
ما له ژوند سره پیمان په رښتیاکړی
زه صادق یمه (همرازه) په وفـا کې

***

ډیره موده پس مې نن دلبر ولید
ما که څه روژی پسې اختر ولید
شپه د هجرتیره شوه په خیرسره
ماچې د وصال ختلی لمــــر ولید

***

ای دسرې جوړې میرمنې ډیرښه پوه شوم
ستا نه هم چې شوله خــــــــــپله مینه هیره

مبارک شه نوی ژوند اونوی کــــــــوردې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره بس دی پوهـــــــوئ دنه شم نوره

***

په ظاهرلباس دتیروتم خطـــاشوم

ماویل ګل یې له اغزوسره آشناشوم

په خـــوږه کې دټس راکړلوپوهیږم

بی عزته بامـــــــطلبه پوه په تاشوم

***

شومه دم شوه نیمه شپه ده ته را نه غلې

آرمانونه ستااقرارته په ګیلــوشول

انتظارنه امیدونه جــــــــــداکیږی

امیدونه انتظارته په ګیلـــــــوشول

۱۳۷۳/۲/۳ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څولـنلړۍ

اروابناد غازي شیرخان د خپلو لیکنو په کتابچه کې په خپل قلم یوڅولنلړۍ لیکلې وې چې کټ مټ یې رانقلوم :

خاونده ستانوم مهربان دی

زه دبښنې ځای په ځان کې نه وینمه

شهیده ناوې دځوریږي

چې دجنت حورو ته ورنه کړې لاسونه

مرګي د قدر رامعلوم کړ

په مړی ښنه نه ږدم چې یاربه یې پاتې شینه

پسرلی ماپسې خفه شو

زماپه شناختوپورې وترۍ ګلونه

ما ویل کم کم به هجران وي

زه خبرنه وم چې لاهو په هجران شومه

دنیا ته پاک له ګناه راغلم

اوس دګناه پیتې په سرله دنیاځمه

زه چې پیداشوم په ژړاشوم

په دنیاتیت نصیب به خنګه ټولومه

قلم زماپه حال خبردی

ځکه له خولې نه توري وینې غورځوینه

نه به مې یارپه خندا راشي

نه به زما دغم ژړا په کرارشینه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دامې په خپله په ځان کړي

که مې له دینه حال بدترشي خوښ پرې یمه

سرچې د غم په بالښت کیږدم

ستا دجفاپه حسابوکې ویده شمه

چاره راوخله ماحلال کړه

وینه مې سره ده پرې مې ولیکه غمونه

ښه دی چې باغ زما تالاشو

مدام به غم د رژیدو راسره ونه

یوله الله نه مدد غواړم

نور د مخلوق په تمه نه ګرځم مینه

هسې به روغ درته ښکاره شم

په دې پیچلی زړه کې ډیرشته دي غمونه

چې په دنیاکې دخفـــــــــه کړم

په آخرت کې ستاګریوان زمالاسونه

۱۳۷۳/۲/۳ لمریز - دشپې ۱۱بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د غازي شیرخان"همراز"تلین**

د ارواښاد غازي شیرخان (همراز) وردګ مړینه د افغانستان دکړیدلی اوځوریدلی ،غیور او مجاهد ولس لپاره یوه ستره ضایع شوه . نوموړی د۱۳۹۲هجری لمریزکال دلیندۍ دمیاشتې په اومه نیټه د زړه د ناروغۍ له امله چې څو کاله وړاندې ورته پیښه شوې وه له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې د جنازې لمونځ یې د یولړ شانداره مراسمو په ترڅ کې چې ډیرو مبارزینو اومجاهدینو ملګرو یې پکې برخه اخیستې وه ترسره شول او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. روح یې ښاد ،یادیې تل، پر ګور یې نور.

انا لله وانا الیه راجعون

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شیرخــان ته!**

د جهـــــاد تاریخ په تا باندې ودان دی

ټوټې کړی چې کمون تا پرجهـــان دی

چې په ټینګه ملا ولاړ وې دخـدای لارکې

ستا غیرت ته هر رقیب څومره حـیران دی

تا ټول عمرد سنګــر په غیږکې تیرکړ

تا ګټلـی له اغـــیارو هر مـــیدان دی

دحی علی الجهـاد هرغږ، هرې نارې ته

هر کمین او هر مورچل په تا ودان دی

کارنامې د په تاریخ کې ځـــــلیدلې

هر افغان ستا د خواریو قـدردان دی

د مظلوم اوښکې د هر وخت وچې کړې

نوم د ځکه د زخمي زړونو شیرخان دی

(پټانزی) د حمــــــاسو ته شعــــر لیکې

هره فتحـه هر داستان د جـــاویدان دی

**۱۳۹۲/۹/۲۶** لمریز – دهرات لرغونی ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مأخذ اومنابع


۱. قرآنکریم له رواني پښتوژباړې سره،غیرت ،عبدالباری،چاپ۱۳۸۹لمریز،عنایت کتاب پلورنځي .

۲. درسول الله صلی الله علیه وسلم ۱۰۰احادیث،ارزه وال،مولانا امین الله ،چاپ ،جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان .

۳. یوسف زی ،شیرشاه، تاریخ مسخ نمي شود، چاپ کال ۲۰۰۰ م، پېښور.

٤. احمدي،ګل آغا، وردګ پېژندنه، دچاپ کال ۱۳۹۷ل.

۵. حیران،حسن جان،د رڼا لاروی،دچاپ کال ۱۳۹۷ل.

٦. نوماند اکادمیسین دکتور اسدالله حبیب، دوره امانی، کال ۱۳۶۸، کابل.

۷. حبیبی،پوهاند عبدالحی ،تاریخ مختصر افغانستان .

۸. غبار،غلام محمد، افغانستان در مسیرتاریخ ، لومړی ټوک .

۹. اعلیحضرت امان الله خان، حاکمیت قانون در افغانستان، د حبیب الله رفیع په اهتمام ، چاپ ۱۳۷۸، پېښور.

۱۰. فرهنګ ، افغانستان در پنج قرن اخیر، لومړی ټوک.

۱۱. د ارواښاد غازي شیرخان،دخاطرو،لیکنو،شعرونواو ویناوو کتابچه .

**دانټرنیټ ویب پاڼې :**

۱۲. www.benawa.com.

۱۳. www.royalark.net


**ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب له متن څخه ...

که غواړئ چې خپل روح ، ځان ، مال ، اولاد ، ناموس، دوستان، ټولنه او بالاخره چاپیریال مو تل په امن او آرام وي نو؛ هیڅکله د خپل مسلمان ورورڅخه د انتقام اخیستلو په فکر کې مه اوسئ بلکه هغوی ته د اللّٰه (جل جلاله ) څخه د هدایت او لارښوونې غوښتنه وکړئ او هغه ته د اصلاح او جوړونې لارې چارې ولټوئ .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**